

# فولکلوریکه (دودیزه) درملنه

Ketabton.com

مولف: سید امرالله امید

کال: ۱۳۹۴

(c) ketabton.com: The Digital Library

# فولکلوریکه درملنه

سید امرالله امید

۱۳۹۴ل کال

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحيم

# کتاب پېژندنه:


د کتاب نوم: فولکلوريکه (دوديزه) درملنه

ليکـــوال: سيد امرالله اميد

خپرونـدی: د افغانستان ملي تحريك، فرهنګي څانګه

وېـبپـاڼـه: www.melitahrik.com

کمپوز: خپله ليکوال

چـاپشمېـر: ۱۰۰۰ ټوکه

چـاپـکـال: ۱۳۹۴ ل کال/ ۲۰۱۵م

د تحريك د خپرونو لړ: (۷۰)


يادونه: د چاپ حقوق له ملي تحريک سره خوندي دي او د کتاب د محتوا مسوليت ليکوال پورې اړه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ډالـــۍ

## هغوی ته چې لاهم له ناچارۍ ورځې د سونډ او سپېرکۍ درملنې ته ناست دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لیکلړ


شماره: سرلیک مخ

۱- فولکلور څه ته وایي ............................... ۱

۲- د فولکلور قلمرو ............................. ۴

۳- د فولکلور زماني بعد............................. ۷

۴- فولکلور او ولسي پوهه ................................ ۸

۵- د فولکلوریکې درملنې تاریخچه.......................... ۹

۶- انساني دودیزه درملنه............................... ۱۳

۷- بېلابېلې دودیزې درملنې......................... ۱۴-۷۷

۸- پایله.............................................. ۷۸

۹- وړاندیز.............................................. ۸۰

۱۰- ماخذونه.............................................. ۸۱

(c) ketabton.com: The Digital Library

# مخکینۍ خبرې

مونوګراف لیکنه د هغه محصل رسمي مسوولیت دی، چې فراغت ته نږدې وي، محصل په دې مکلف دی چې د مونوګراف لیکنې لپاره موضوع پیدا کړي، له ادارې سره یې شریکه او د موافقې له ترلاسه کولو وروسته د لارښود استاد په لارښوونه او مرسته یاده موضوع تر خپلې وسې روښانه او ورباندې کار وکړي.

ما هم یاد مسوولیت ته په کتو د ((فولکلوریکه درملنه)) تر سرلیک لاندې موضوع وټاکله او ادارې راسره موافقه وکړه. دا چې فولکلور د ادب د یوې برخې په توګه ډېر پراخه او بیا فولکلوریکه درملنه د فولکلور د یوې غني برخې په توګه په ټولنه کې شتون لري، زما لپاره پر دې موضوع کار کول او دغه ارزښتونه راټولول په زړه پورې وو.

په دې مونوګراف کې مې هڅه کړې د فولکلوریکې درملنې له تاریخچې خبره پیل کړم او اوسنۍ فولکلوریکه یا ولسي درملنه ورسره د ارتباط له مخې وڅېړم، په دې برخه کې مې له با اعتباره سرچینو د فولکلوریکې درملنې په اړه تاریخي معلومات راواخېستل، ومې ژباړل او په هېواد کې د

(c) ketabton.com: The Digital Library

فولکلوریکې درملنې په اړه مې د بېلابېلو ځايونو له خلکو سره وليدل، د يادې درملنې په باب مې د هغوی د تجربو په اړه معلومات تر لاسه او راټول کړل، لومړی دوه درملنې مې په دريو برخو وويشلې چې انساني درملنه، څارويزه يا حېواني درملنه او د کورنيو الوتونکو درملنه، بيا مې دوه لومړۍ برخې په دريو ځانګو ووېشلې، چې عبارت دي له:

- انساني فولکلوريکه درملنه
- انساني روحاني فولکلوريکه درملنه
- انساني خُرافاتي فولکلوريکه درملنه

څارويزه درملنه هم په پورته يادو درې برخو ويشل شوې ده او د الوتونکو درملنه بيا يوازې دوديزه بڼه لري. زه د دې مونوګراف په ليکنه کې د درانه او قدرمن استاد پوهنمل ولي الله فاضل صاحب د لارښوونو او لورينې ډېر پوروړی يم، چې ترې مننندوی يم.

درنښت

سيد امرالله اميد

(c) ketabton.com: The Digital Library

## سریزه

دودیزه یا فولکلوریکه درملنه زموږ په ټولنه کې دود ده، دا درملنه ډېر اوږ تاریخ لري او له پېړیو راهیسې یې په ولسونو کې رواج موندلی دی. هغه ټولنې چې د تمدن او پرمختګ له څغله وروسته پاتې دي، فولکلوریکه درملنه پکې زیاته مروجه ده، د دې لامل دا دی چې یو خو دا درملنه ارزانه ده او بل اسانه. په دې سربېره فولکلوریکه درملنه د ولس له عقایدو، باورونو او تجربو سره هم نږدې اړیکه لري، له همدې امله خلک د خپلو ناروغیو د درملنې لپاره لومړی دودیزې یا فولکلوریکي درملنې ته مخه کوي.

په دې مونوګراف کې مې هڅه کړې د هېواد د بېلابېلو ځایونو د دودیزې درملنې په اړه معلومات راټول او دا روښانه کړم، چې زموږ ټولنه په فولکلوریکه برخه کې څومره غني ده. موږ همدا اوس چې د تکنالوژۍ له یون سره قدم اخلو، خو بیا هم زموږ په کلیو او بانډو کې دودیزه درملنه ښه په زور سره روانه ده. ما دا درملنه په دوه برخو وېشلې ده، لومړۍ برخه یې انساني درملنه او دویمه یې حیواني ده. انساني درملنه بیا په درېو برخو ویشل شوې، یوه هغه درملنه ده چې د صحرایي بوټو او طبعي طبي توکو څخه پکې ګټه اخیستل کېږي او ناروغ ته د درملنې لپاره وړاندې کېږي، دویمه برخه یې روحاني یا عقیدوي درملنه ده چې له دم- دعا څخه عبارت ده او په ټولنه کې د باور وړ ده. درېیمه درملنه له ځینو ناسمو عقیدو سره تړاو لري، لکه کوډې، جادو، منترونه، ټوټکې او داسې نور. حیواني فولکلوریکه درملنه مې هم په درې ډوله ویشلې ده. یوه یې له دم – دعا سره

(c) ketabton.com: The Digital Library

تړلي، دويمه يې له بوټو او محلي درملو څخه چې د ښارويو د ناروغيو پر مهال تري ګټه پورته کېږي او درېيمه يې خُرافاتي ده.
همدا زار په دې کتاب کې د الوتونکو (مرغانو) او کورنيو الوتونکو درملنې ته هم پاملرنه شوې. ما دا موضوع د دې لپاره وټاکله چې يو خو زما لپاره په زړه پورې وه، بله دا چې هيله مې درلودله چې که خدای (ج) توان رانصيب کړ، نو د کتاب په بڼه به يې ټولنې ته وړاندې کړم. په دې مونوګراف کې مې هڅه کړې له باوري سرچينو ګټه واخلم او د ماخذ په توګه له هغو اثارو اقتباس وکړم، چې ګټور دي. په دې سربېره مې د کليو او بانډو له طبيبانو او مشرانو خلکو د دوديزې (فولکلوريکې) درملنې په اړه معلومات راټول او په دوديزه درملنه کې مې د هغوی له تجربو ګټه پورته کړې ده. همدا زار د فولکلوريکې درملنې د تاريخچې په اړه مې ځينې مطالب له فارسي سايټ څخه راخيستي او بيا مې پښتو ته ژباړلي دي.
غواړم د ښوونې او روزنې پوهنځي د پښتو څانګې له مشرتابه، درنو استادانو او په ځانګړي ډول قدرمن لارښود استاد پوهنمل ولي الله فاضل صاحب نه مننه وکړم چې د مونوګراف په اړه يې راسره پوره همکاري کړې. انسان نيمګړی دی، زما د مونوګراف دغه موضوع به ډېرې نيمګړتياوې ولري، په دې هيله چې زما کمی او ناسمې به قدرمن استادان او درانه لوستونکي راوبخښي.

درنښت

سيد امرالله اميد

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د تحریك یادښت

د افغانستان ملي تحریك د (۱۳۹۳ ل) کال په پیل کې له خپلو ګرانو هېوادوالو سره ژمنه کړې وه چې د دې کال په بهیر کې به (شل عنوانونه) بېلا بېل دیني، علمي، ادبي او ټولنیز اثار خپلې ټولنې ته وړاندې کوي. ملي تحریك دا ژمنه د یاد کال د کب پر (۲۸)مه نېټه پوره او د یوې پرتمینې غونډې په ترڅ کې یې شل عنوانونه علمي اثار هېوادوالو ته وړاندې کړل. ملي تحریك په یاده غونډه کې ژمنه وکړه چې د (۱۳۹۴ ل) کال په بهیر کې به انشاء الله د خدای (ج) په نصرت ټول ټال سل (۱۰۰) عنوانه بېلابېل علمي اثار ټولنې ته وړاندې کوي. طبیعي خبره ده چې دا اسانه کار نه دی، ډېر زیات زیار او زحمت ته اړتیا لري، خو ملي تحریك ټینګ هوډ کړی چې خپله دا ژمنه به هم د تېرې ژمنې په څېر عملی کوي. دا اثر چې ستاسو په لاس کې دی د همدې (سل عنوانونو) ژمنه کړو اثارو له جملې څخه دی، چې د چاپ جامه اغوندي. ملي تحریك هیله لري چې له دې اثر څخه به زموږ هېوادوال په زړه پورې ګټه پورته کړي. ملي تحریك له ټولو هغو لیکوالو، ژباړونکو، سمونچارو، مالي او معنوي مرستندویانو او چاپ چارو څخه چې ددې اثارو د چاپ په دې ټول بهیر کې یې یو بل سره مرسته او ملګرتیا کړې او دا فرهنګي بهیر یې بریالی کړی، د زړه له کومې مننه کوي او کور ودانی ورته وایي.

د هېواد د فرهنګ د ښېرازۍ په هیله

د افغانستان ملي تحریك فرهنګي څانګه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# فولکلور څه ته وایي؟

فولکلور ولسي پوهې ته وايي او د Folk (خلک) Lore (پوهه) له کلمې څخه اخیستل شوی، چې عامیانه باورونه له فولکلور څخه عبارت دي. فولکلور د کولتور جوړونې له اجزاوو څخه دی، په نړۍ کې ټول جوړ شوي کلتورونه که هغه د لومړنیو انساني ټولنو کولتورونه وو[چې تکنالوژي یې نه لرله]او که د اوسنیو ټولنو کولتورونه دي[ چې ټکنالوژي لري] د عامه فرهنګ څرګندوونکي دي. ولسي پوهه(فولکلور) د انساني رویشونو او د ټولنې له میراث څخه عبارت دی.

ځېنو شفاهي ادبیات عامه فرهنګ ګڼلی دی، ځېنو بیا ټول رسوم، مقررات، دود، ادب او هنر هغه که په لومړنۍ او وروسته پاتې ټولنه کې دي او که په پرمختللې او صنعتي جامعه کې چې په شفاهي ډول انتقالېږي، فولکلور یا ولسي پوهه ګڼلې ده.

زموږ د ژوندانه زیاته برخه چې موږ د عادت له مخې په میراث تر لاسه او جوړه کړې، ملي نه ده، بلکې بشري بڼه لري،

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دې توګه ویلای شو چې د ژوندانه عامیانه بېلابېلې څرګندونې له عمومیت او قدامت حاکی دي، دغه عادات هر چېرې چې بشر دی، ځان څرګندوي او کولای شو اټکل کړو چې دا حالت د بشر له شروع او یا هم له ډېرو لرغونو دورو سره اړیکه لري.

هغه یو بل ته ورته ابزار چې د نړۍ په بېلابېلو ځایونو کې موندل شوي، نه یوازې د قومونو د اړیکو دلیل دی، بلکې د دې نظر تایدوونکی دی، چې له تاریخ وړاندې ټولو انسانانو له دغو ابزارو ګټه پورته کړې، ځکه به یې نو عادت او رسوم هم سره ورته وو.

فولکلور یا ولسي پوهه که د موضوع له مخې کیسې او ترانې دي او یا نورې جنبې لري، په عمومي توګه د پرګنو د ژوندانه محصول دی. هغه هېوادونه چې یو له بله لرې او سره تګ راتګ نه لري، ولسي اشعار او سندرې لري، چې د مضمون او اهنګ له مخې سره یو شان دي.

د ملتونو د پرتلنې اصل ته که وکتلای شي، نو د بېلابېلو نژادونو خلک که هغه هندي نژاده دي، که اروپايي نژاده، سور پوستي دي، تورپوستي دي او که سپین پوستي لیدل کېږي چې د دوی ترمنځ ګډ فولکلوریک ارزښتونه موجود دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



سکاټلېنډی چوپان، روسی کب نیوونکی، ایرانۍ دایي، هندي بزګر او عرب اوښبه(شترچران) ښایي نالوستي او کله يې هم يو د بل په اړه نه وي اورېدلي، خو يوه مشترکه وجه لري او هغه عبارت دي له خندوونکو کيسو او افسانو څخه چې کله يې ظاهري بڼه سره په توپير کې وي، خو موضوع د ټولو يو شان وي. له دې ځايه پوهېږو چې د بشر دا ډول تصورات د لومړنيو دورو تراني، کيسې او باورونه هغه زمان ته رسېږي چې د دې ملتونو بېلابېلې کورنۍ سره په ګډه اوسېدلې او لا هم بېلې شوې نه وې. ويلای شو چې موږ نه يوازې خپل عادات، اداب، باورونه، انګېرنې او روايات له خپلو پلرونو يا هغو کسانو تر لاسه کړي، چې زموږ له نيکونو سره يو ځای اوسېدل، بلکې دا مو له ټولو نورو نژادونو څخه اخيستي دي، چې سر يې آن ماقبل التاريخ ته رسي.

فولکلور نوی علم دی، خو د هغې د مصالحو راټولول خورا سخت کار دی، دغه خزانه د نالوستو انسانانو د کيسې له خوندينې څخه عبارت ده، چې بايد د يو هېواد لوستي کسان ورپسې وګرځي او په راټولونه کې يې همت وکړي. که د فولکلور په راټولونه کې لټي وشي، نو وېره شته چې موږ به د ټولنې د فولکلور (ولسي پوهې) زيا ته برخه هېره کړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د فولکلور قلمرو:

که څه هم په نړۍ کې د ((فولکلور)) اصطلاح رامنځته کېدل او د ادب نړۍ ته یې ورپېژندنه څه د پاسه ۱۵۰ کاله په بر کې نیسي، خو تر دې دمه د ((فولکلور)) تعریف نه دی روښانه شوی او د ټولنپوهانو او فولکلوریستانو تر منځ سلیقه یي اختلاف موجود دی. فولکلور هم د فرهنګ د عناصرو د یوې برخې په توګه او هم د هغې پوهې په توګه پېژندل کېږي، چې دا مواد موږ ته معرفي کوي. دا چې ((فولکلور)) د فرهنګ یو جز او د فرهنګ بشپړېدو یوه برخه ده، په اړه یې د نظر خاوندان اختلاف نه لري، خو دا چې ((فولکلور)) د فرهنګي موادو کومه جنبه په بر کې نیسي د هغوی تر منځ ورباندې اختلاف شته.

فولکلوریستان د فولکلور په تعریف کې یوه خوله نه دي، نه یوازې د نړۍ فولکلوریستان، بلکې د هر هېواد فولکلور پوهان په دې اړه بېلابېل نظریات او سپارښتنې لري.

د ((کیسو، اسطوره پېژندنې او د ستندرد فولکلور ویپوهنې)) په کتاب کې د فولکلو یو ویشت تعریفونه راغلي دي. ټولنپوهنان او په ځانګړې ډول ولس پېژندونکي فولکلور د قومي فرهنګ د یوې برخې په توګه مني. دا ډله لیکلي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ادبیات، دودیز روایات، لکه اسطورې، کیسې، افسانې، متلونه، ترانې، انګېرنې او کیسۍ فولکلور ګڼي او د شفاهي ادبیاتو نور ډولونه لکه قواعد، جشنونه، مذهبي او غېر مذهبي مناسک او شعائر، دودیزې نڅاوې، هنرونه، لاسي صنایع، اوبدل او د خلکو عقیدې له فولکلوره جلا کوي او د فرهنګ یوه برخه یې ګڼي.

امریکایي عالم او ولسپوه ((ویلیام باسکام)) د فولکلور قلمرو تر ((شفاهي هنر)) پورې محدودوي. دی له فرهنګه یوازې اسطورې، افسانې، کیسې، ضرب المثلونه، کیسۍ، ترانې صنفونه که هغه په هرو ټولنو(ابتدایي وي که پرمختللې او صنعتي) ورته فولکوروایي.

یو بل عالم ((باسکام)) ننداریز هنرونه، موسیقي، پوښاک، دودیزه درملنه، رسوم او باورونه د ((شفاهي هنرونو)) یا فولکلور برخه ګڼي او دا د قومونو د فرهنګ د اجزاوو په نوم یادوي.

ډنمارکي ایران پېژندونکي (( ګریستېن سن)) د فارسي اصطلاح (( علم انتقال عوام)) د فولکلور کلمې لپاره مناسبه ګڼي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د فولکلور موضوعات موږ ته د پخوانیو تمدنونو او ملتونو د ژوندانه په اړه مهم مسایل چې په تاریخ کې نه دي ثبت شوي راپېژني. موږ ته دا ښکاره او روښانه کوي چې دا ډول دودونه خورا ټینګ او غښتلي وو، پېړۍ بلکې زرګونه کلونه ښایي پاتې کېدونکي وي. یوازې هغه وخت له منځه تللی شي، چې د فولکلور د عاداتو مانا، حکمت، ګروهه له خلکو ولاړه او هېره شي.

## د فولکلور ټولنیزه زمینه:

دا چې فولکلور له ټولنې او کولتور نه جلا شی نه دی، ځکه یې نو ماهیت په فرهنګي او ټولنیزې زمینې پورې تړلی دی. ممکنه ده د فولکلور فرهنګي او اجتماعي زمینه قومي، ژبني، جغرافیایي او شغلي کیفیت ولري. فولکلور په ټولنیزه برخه کې یو ارتباطي بهیر دی، چې کیسه کوونکي او کسیه اورېدونکي د کیسې په مټ سره وصل کېږي او ارتباطي اړیکه رامنځته کوي. دغه بهیر په وړه یا غټه برخه خلکو کې رامنځته کېږي. دغه ډله خلک کېدای شي یوه کورنۍ وي، د یوې ځانګړې کړۍ خلک وي، د یوې فابریکې کارګران وي، یو قوم یا یوه طایفه وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د فولکلور زماني بعد :

د زماني بعد له مخې باید فولکلور د ((زمان)) د ژرندې تر پل لاندې وړوکی او نرم شي او د زمان بېرته ګرځېدنه د فرد یا افرادو د شفاهي لېږد په واسطه باید نسل په نسل ادامه پیدا کړي. د فولکلور د ژوند تاریخ او د هغې د عناصرو زړښت او لرغونتوب د فولکلور د ماهیت د تشخیص لپاره نه دي، د فولکلور اوسنی شتون پخپله موږ ته د فولکلور ماهیت او څرنګوالی په ګوته کوي. د بېلګې په توګه یوه ټوکه، طنز یا شوخي، چې په هر زمان کې ویل شوې ده او په هنرمندانه ډول جوړه شوې ده په خپله فولکلور دی. دا مهمه نه ده چې په کوم تاریخ ویل شوې، یا دا چې په دودیزه توګه دا په کوم تاریخ او کړندود پورې تړلې ده.

## د فولکلور د لېږد (انتقال) واسطه:

فولکلور د لېږد یا انتقال په برخه کې شفاهي کیفیت لري.ډېری پوهان او فولکلور پېژندونکي په دې باور دي، چې د فولکلور عناصر په بېلابېلو بڼو پرته له دې چې لیکل شوي وي، د خلکو پر ژبو له یو شخص نه بل او له یوې ډلې نه بلې ته نسل په نسل په شفاهي ډول انتقالېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## فولکلور او ولسپوهنه:

فولکلور له انساني او اجتماعي علومو سره دوه ګونی تړښت لري، د دې علومو په بېلابېلو څانګو کې فولکلور زيات له ولسپوهنې سره چې کله د نظامونو، بنسټونو، فنونو، ادبياتو او دودونو په اړه بحث کېږي، نو فولکلور د نړۍ د ژونديو قومونو او ټولنيزې ژبپوهنې سره تړاو لري. کله چې وايو فولکور د فرهنګ يوه برخه ده، بيا نو هرومرو د ولسپوهنې تر څېړنو لاندې بحث دی. څېړونکي که فولکلور يا د ټولنې قومونه تر ژورې کتنې لاندې ونه نيسي، نو د هغه قوم او ټولنې له کولتوره به ناسم تصوير ولري.

## د فولکلور را ټولونې نقش او اهميت:

فولکلور د ديني، اجتماعي، سياسي او اقتصادي نهادونو د تصديق او تجويز د غوراوي لپاره په ټولنه کې د هغوی دندې مخ ته وړي. ولسي پوهه (فولکلور) په دې کې مهمه ونډه لري، چې ارزښتونه، د يو نسل د زده کړو تدابير او ځانګړتياوې بل نسل ته انتقال کړي. فولکلور د دغو پېژندنو په انتقال سره د فرهنګ په غښتلتيا او دوام، ټولنې ته د ادابو او اخلاقي

(c) ketabton.com: The Digital Library



معیارونو په ورکړه او د ټولیزو مشترکاتو په اړه د ټولنې له افرادو سره مرسته کوي.

: (( فولکلور باید په هغه بڼه راټول شي چې په اولس کې موجود دی او سینه په سینه تر مونږه رارسېدلی دی، د دې تر څنګ باید یو فولکلور ټولوونکی دې ته هم متوجه وي، چې په فولکلور ټولونه کې د راوي معرفي کول، د ثبت نېټه، سیمه او داسې نور ملحوظات په ټینګه په پام کې ونیول شي))[1]

## د فولکلوریکې درملنې تاریخچه:

په لرغوني یونان کې ۴۶۰ کاله له میلاد وړاندې د بقراط په وخت کې فولکلوریک طب څرګند شو، دغه درملنه او روغتیا بخښنه په دې ګروهې پورې تړلې وه، چې ګواکې اسکولاپیوس( د درملنې رب النوع) انسانانو ته شفا ورکوي. د یونان د لرغونو کیسو له مخې اسکولاپیوس هغه رب النوع ګڼل کېده، چې د دوی په ګومان د ځمکې له تله راوتې و او له ځانه سره یې یو مار هم لاره.[دا ګروهه د دوی د نورو رب النوعو

[1] ناصر نصرالله، د پښتني فولکلور د چاپي مجموعو څېړندود، کابل، آزادی مطبعه، ۱۳۸۳ لمریز، ۶۶ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



پر خلاف وه، ځکه چې نور رب النوعه یې د لمپ د غرونو له سرونو راوتي ګڼل].
دغې ګروهې له هغه ځایه سرچینه اخېستله، چې کله تېپیان پر ځمکه هوار پرېوزیت، نو د راحت احساس کوي او ویده کېږي، نو د ځمکې دغه ساحرانه اغېز یې د اسکولاپیوس په نوم رب النوعه ته منسوباوه، چې د هغوی په ګومان د ځمکې په تل کې یې شتون لاره. دغه وخت فولکلویک طبابت مذهبي بڼه لرله.
دغه لومړنی فکر په ((تسالي)) کې پیدا شو او بیا هغه مهال د نړۍ نورو برخو ته خپور شو، لکه مصر او روم ته او په مصر کې یو معبد د ((اسکلپییوس)) نوم غوره کړ.
له میلاد وړاندې په څلورمه او درېیمه پېړۍ کې د فولکلوریکو درملنو په سلګونه مرکزونه جوړ شول، چې هغو ځایونو ته به یې د درملنې په موخه ناروغان وروړل. په دې ځای کې فولکلوریکه مفکوره دا وه چې ناروغ ته په خوب کې روغتیا په برخه کېږي. یا دا چې ځېنې لارښوونې به ناروغ ته کېدلې چې له مخې به یې ناروغ ته روغتیا په برخ کېدله.
د اسکولاپیوس عبادت ځایونو جوړښت ته په ځیرتیا دا خبره څرګندېږي، چې هغه مهال به د ناروغانو د درملنې لپاره په دې عبادت ځایونو کې ځانګړي ځایونه جوړېدل. لومړني عبادت

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځایونه ساده او د سمڅو په بڼه وو، وروسته چې کله د اسکولاپیوس په نوم مرکزونه جوړ شول او د درمل ځایونو په نومونو ونومول شول بڼه یې کاملاً بدله وه. د بېلګې په ډول د اپیدروس عبادت ځای، چې د یونان په اپیدوس کې د اسکولاپیوس خورا مهمه زیارتګاه ده، چې تر اوسه یې کنډوالې شته او د پخواني عظمت له رونقه ډکې دي. د غه (معبد – درمل ځای) مخ په لمر جوړ شوی دی. دغه درمل ځای د مېلمستون، د ناروغانو لپاره د آرام څلورو خونو، تشنابونو او فوارو لرونکی دی. د لوبو او تیاتر په ځایونو سربېره د اسپ ځغلولو سیالیو میدان هم لري.

دغه ډول فضاء رامنځته کولو ناروغانو ته اجازه ورکوله، چې په ځان مینځلو سره جسماً پاک شي او د لمبا، اسپ ځغلولو او تیاتر له سیالیو روحي ارام تر لاسه کړي. په لرغوني یونان کې به په دغو درمل ځایونو کې د ناروغ له بستر کېدا د مخه هم د روغتیا رب النوعه په نوم قرباني کېدله او له روغتیا حاصلولو وروسته هم. په دغو درمل ځایونو کې به له اسانو درملو ګټه پورته کېدله او په پرهېز کولو به ټینګار کېده.

کله به چې دغه لومړنۍ درملنې ( د ځان پاکول، غذایي پرهېز، روحي سکون) ناروغ ته تر سره شو، د شپې له خوا به یې دغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ناروغان د معبد هغه ځای ته ورووړل، چې دوی یې تقدس ته قایل وو. هلته د اسکولاپیوس یوه لویه مجسمه وه، چې له عاج( د ژویو له غاښونو) او سرو زرو جوړه وه. ناروغانو به له خپلو نذرانو وروسته هلته استراحت کاوه او په خلوت کې به ناست وو، بیا به هلته ویده شول تر څو په خوب کې اسکولاپیوس ووینې. یونانیانو باور درلود چې اسکولاپیوس او د هغه لور ((هژیا)) د یو مار لرونکې وه. [2]

هغه مهال د اسکولاپیوس د روغتیا بخښنې شهرت زښت زیات شو او له میلاد وړاندې په پنځمه پېړۍ کې د طاعون ناروغۍ په پیدا کېدو سره یو بل معبد د اکروپولیس په سهیلي لمنو کې جوړ شو، چې د اسکولاپیوس په څېر یې یادې اسانتیاوې لرلې.

۲۳۹ کاله وړاندې له میلاده، کله چې په روم کې د طاعون ناروغي خپره شوه، د اپیدروس درملځای نه په الهام اخېستنه یو درملځای جوړ شو او د حیرانتیا خبره دا وه چې طاعون هم پای ته ورسېد.

[2] له هماغه وخته ده، چې اوس هم د طب نخښه(لوګو) په ځېنو هېوادونو کې مار دی، یا په ځېنو هېوادنو کې مار تر جام تاو او یا له امساء تاو دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په همدې ترتیب فولکلوریکه درملنه کرار کرار په یوه او بله بڼه په بېلابېلو ټولنو کې مروجه شوه او په هره ټولنه کې یې په دودیز، روحي او رواني لحاظ ریښي وځغلولې او اوس د نړۍ په بېلابېلو ولسونو کې جلا جلا بڼې لري.

## انساني دودیزه درملنه

### الف: ولسي ( فولکلوریکه) درملنه:

زموږ په ټولنه کې فولکلوریکه یا دودیزه درملنه په خوار پراخه کچه دوده ده، په کلیو، بانډو او آن په ښاریاتو کې دغه دود غښتلی او ډېری خلک په دې باور دي چې دغه درملنه اسانه او ارزانه ده، دلته له خپلې موضوع سره په اړیکه د فولکلوریکې یا ولسي درملنې بېلګې وړاندې کوو.

### د خوسکي پوستکي اغوستل:

په کور کلي کې اوس هم دا تریوه حده مروجه ده هغه ناروغ چې د محرقې (وچکۍ) په ناورغۍ اخته وي یا څو ورځې پرلپسې تبې وکړي، یا په ملاریا ناروغۍ کې وران شي او تبه یې نه وځي، د کور-کلي د تجربه کارو خلکو له خوا ناروغ ته د

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوسکي پوستکي اغوستلو توصیه کېږي. دا په دې ډول ده چې یو خوسکی به حلال کړای شي او پوستکی به یې د کمیس په شان وباسي[کلیوال وړباندې پوهېږي] ناروغ به جامې وباسي او دغه پوستکی به واغوندي. یوه شپه او یوه ورځ به په دې پوستکي کې تېره کړي. کلیوال او د دودیزې درملنې پلویان په دې آند دي، چې دغه پوستکی د ناروغ تبه وباسي او روغتیا یې په برخه کېږي. پخوا دا درملنه زښته زیاته مروجه وه، خو اوس کمه شوې او په یو نیم ځای کې ترې ګټه اخېستل کېږي.

د محرقې لپاره:

کلیوال وایي چې شین اغزکی به وټکول شي یو ګیلاس شیره به یې په نهاره د یوې اونۍ لپاره وڅښل شي، د محرقې تبه به یې ووځي او ناروغ ته به خدای شفاء ورکړي. که شین اغزکی یې پیدا نه کړ، نو وچ به جوش کړای شي او یو ګیلاس اوبه به یې د یوې اونۍ لپاره وکارول شي، له دې سره به یې د محرقې تبه وځي او ناروغ به د روغتیا خاوند شي.

ښکر لګول:

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښکر لګول په کليو او بانډو کې له پخوا رواج دی، خو اوس دغه دود کم او په يو نيم ځای کې ژوندی دی، ښکر په کور کلي کې سلمانيان(نايان) هغو ناروغانو ته لګوي، چې مردار داني وربانديې ختلې وي، يا د حساسيت له مخې لړمی شوي وي، يا يې ماشېره(معاشره) ناروغي وي[ ځان يې سور او پلی پلی شوی وي] طريقه داده چې د ناروغ د ولو منځ به په نشتر يا پاکي بانديې اريې او زخمي کړای شي، بيا د ځاروي سوری شوی ښکر وربانديې ولګوي او د ښکر په څوکه بانديې له زخمي شوي ځای څخه د خولې د فشار(کش) په زور وينه وباسي او پر ځمکه يې غورځوي، آن تر دې چې دوه يا درې پيالې وينه له ناروغه وباسي، بيا يې پر ټپونو ټوټه وتړي او ناروغ ته د استراحت کولو توصيه وکړي. په دې سره دوی ګومان کوي، چې ناپاکه وينه يې له ناروغه وايستله. باور دا وي چې څو ورځې وروسته ناروغ ښه کېږي او شفاء مومي.

رګ وهل:

د ځينو ناروغيو لپاره لکه پر پوزه د حساسيت له مخې بخار ختل(اسپا)، پړسوب، د يوې پښې سرتاسري درد چې رګ

(c) ketabton.com: The Digital Library



نساء هم ورته وايي او دانو ته ورته ناروغيو لپاره د پوزې پر څوکه او په پښنه کې د پوندې د پاسه يو اړخ ته رګ وهل کېږي. رګ په پاکي يا تېره تيغ وهل کېږي او پرېږدي چې له زخمه وينه وبهېږي. دا په دې تعبيرېږي چې غوټه شوې او ناپاکه وينه ترې ووتله.

زېړی:

د زېړي ناروغي له هغې ناروغۍ څخه عبارت ده، چې په طبابت کې وايروسي ناروغي ګڼل کېږي، دا ناروغي د وايرس له لارې انتقالېږي او درې ډولونه لري، چې په ولس کې په زېړ زېړي، تور زېړي او سپين زېړي شهرت لري. د دې ناروغۍ ولسي يا فولکلوريکه درملنه داده چې له غوړيو به په کلکه پرهيز کوي، هغه مېوې چې زېړ پوستکي لري، لکه ام او زرد الو ناروغ به يې نه خوري، نورې مېوې، لکه انار، شفتالو، ناک، منه، انګور او د ګنيو اوبه او خواږه به زيات خوري. په دې سربېره ناروغ ته دا توصيه هم کېږي چې ليمو او بادرنګ به زيات خوري، د زېړي ناروغانو ته نانزږه ورکول کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د پښو باد (درد) لپاره:

کله چې پښې درد کوي، نو دودیز یا کلیوالي علاج یې دادی چې د پندانې په تېلو دې غوړې کړي، که تېل نه پیدا کېږي پندانه دې وټکوي او پر پښتو دې د شپې له خوا وتړي، یا دې د پخې وطنۍ چرګې وازده باندې غوړې کړي. یا دې د اوربشو شنې پاڼې وربانديې کېږدي، یا دې د ګلباسي پاڼې وربانديې وتړي. یا دې د خوسکي پوستکی وربانديې وتړي، که درد یې زیات شو، نو بیا دې بویه چې دا یخنۍ ته اوښتی دی او د دوه ورځو لپاره دې وربانديې د پسه د لم پوستکی کېږدي.

د پښو د بادو بل علاج دا هم دی چې لور یا چوړکۍ به په اور کې سره کړای شي، بیا به وربانديې د پښو هغې برخې داغ کړای شي، چې دردمنې دي، د زېتونو په تېلو غوړول هم ګټور بلل شوي دي.

ښځه چې د اولاد په درد رنځوره وي:

کله چې مېرمن د اولاد زېږولو وخت ته نږدې وي له دردونو سخته په تکلیف وي، دا وخت د درد لپاره درمل ځکه نه ورکول

(c) ketabton.com: The Digital Library



کېږي، چې بیا یې اولاد نه پیدا کېږي، دا وخت ورته د ((الم)) په نوم یو یوناني درمل دی( سرې) داني دي. دا به د یو نسوارو وار په اندازه وخوټولو شي، لږ غوندې غوړي هم پکې اچوي، بیا به د دانو سره یو ګیلاس د اولاد په درد رنځورې ښځې ته ورکړل شي، له دې سره به په څو شپو کې ماشوم پیدا شي.

ما رچیچلي درملنه:

د شوتلو وچ سابه به تاوده کړای شي او په چیچلي ځای به کېښودل شي. بل علاج یې دا دی چې د بکیانې پانې به وټکول شي او په چیچلي ځای به کېښودل شي. درېیم علاج یې دا دی چې چونګښه به مړه کړای شي، په منځ به یې بېله کړي او پر چیچلي ځای به یې کېږدي. دا کار د دې لپاره کوي چې د مار زهر راووځي او ناروغ ارامه شي.

ګوټي:

ګوټي یو ډول درمل دی چې په کلیو کې په هر کور کې وي، دغه درمل اکثره نویو پیدا شویو ماشومانو ته ورکول کېږي، په تېره هغه مهال چې دوی ژاړي او ګومان کېږي، چې په نس

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې یې درد دی، یا یې سینه خرابه ده یا ټوخی لري. د ګوټې ترکیب په لاندې ډول دی:
ګل بنفشه د نسوار وار په اندازه، درې یا څلور دانې مرخاڼۍ، یو نسوار وار په اندازه بادیان، د نسوارو وار شپږمه برخه سپېرکۍ، یو کنډوسکی خوږه ولې، لږ شان زوفاء(یو بوټی دی)، لږ شان سپستان او د یو پاولي په اندازه د کوکنارو غوزه. دا شیان به سره میده کړای شي، بیا به په یو بوتل کې واچول شي، چې کله ماشوم ژاړي او د خېټې د درد ګومان وربانديې کېږي، نو د نسوارو د وار په اندازه په یو وړوکي جام کې اچول کېږي، لږه بوره هم ورسره ګډېږي، دا مرکب له یو ګیلاس اوبو سره په اور جوش کېږي، چې کله ښه جوش شو او اوبه نیم ګیلاس پاتې شوې. بیا ورته کتل کېږي چې یخ شي، دا مهال ګوټې تیاره ده چې ناروغ ماشوم ته ورکړل شي. په یوه وړه قاشوغه باندې څلور یا شپږ قاشوغې د څو ورځو لپاره ورکول کېږي. باید وویل شي چې ګوټې اته میاشتیني او لس میاشتیني ماشوم ته هم د ناروغۍ پر مهال ورکول کېږي.
که ملخوزې که بادیان دي – دا همه راحت د ځان دي

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ماشوم د برېښ او پېچ لپاره:

د ماشوم د برېښ او پېچ لپاره او هم دا چې که ماشوم جل وهلی وي، په یو ګیلاس اوبو کې یو چای وار په اندازه سپېرکۍ اچول کېږي، له جوشېدو وروسته ماشوم ته پر قاشوغه د ورڅې څلور یا شپږ ځلې ورکول کېږي. د جل وهلي ماشوم لپاره د ځوزانو ګل او پلۍ به راټولې کړای شي، د یو موټي په اندازه به په اوبو کې جوش شي او اوبه به یې جل وهلي ناروغ ته ورکړل شی، د کلیوالو په ګومان ډېره ګټوره درملنه ده.

د ماشوم د نس ناستې لپاره:

د ماشوم د نس ناستې یا اسهال لپاره په ځېنو کلیو او بانډو کې د للمي کبلو له شنو څټو ګټه پورته کېږي. کلیوال په دې باور دي، چې که د للمي کبلو یو موټی شنې څټې واېشول شي، جوش شوی درمل د اسهال لپاره ګټور دی او که چېرته ناروغ ورسره کانګه(استفراق) لاره، نو بیا دې ورسره شین لاچي هم جوش کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د نس ناستې دویم علاج:

د ماشوم د نس ناستې او جبۍ (ژبۍ) لپاره توره هرېړه، خرما او مردارسنګ درېواړه به پر یوې وړې خویه تیېږې وسولول شي، بیا به د کاڼي دغه برخه په قاشوغه کې ووهل شي او له یوې قاشوغې (شربت خوړلو) په اندازه اوبو کې به ګډ کړای شي او ماشوم ناروغ ته ورکړل شي.

د اغېړ شوي ناروغ درملنه:

کله چې یو کس د زیات خوراک له امله اغېړ [زیات خوری] شي، نو د ایلني یو موټی شنې ختې ورته جوش کېږي، لږه ګوړه یا بوره هم پکې اچول کېږي او بیا که غټ و یو ګیلاس او که ماشوم و نیم ګیلاس ورته ورکول کېږي، دا درملنه په ځېنو خلکو کې زیات مروجه ده. وایي چې له دې سره یې ارګی تازه کېږي، حاجت یې کېږي او د اغېړ حالت یې ښه کېږي.

د مړې تبې علاج:

د دوه واره نسوارو په اندازه خاکشیر به یوولس ځله ومینځل شي، بیا به په یو لوښي کې واچول شي، یو اوسپنیز سیخ به په

(c) ketabton.com: The Digital Library



اور کې سور کړای شي، د سور شوي سيخ څوکه به خاکشير کې کېښودل شي، دې ته د خاکشير داغ کول وايي، بيا به پکې لږ شان بوره او يو ګيلاس اوبه واچوي او ناروغ ته به يې ورکوي. دا مړه تبه باسي.

د تبې بله درملنه:

د تبې، سر درد او زړه ته طاقت ورکولو لپاره د آفتاب پرست ګل ګټور بلل شوی دی، دا ګل تبه لرې کوي، د بدن صفرا لرې کوي، زړه ته طاقت بخښي او د سر درد او د ګېډې چينجي دفع کوي. د پښتورګو کاڼي هم لرې کوي. طريقه داسې ده چې د افتاب پرست ګل پاڼې او ګلبرګ به د دېرشو ګرامو په اندازه په نيم ليتر اوبو کې جوش کړای شي، سهر او ماښام دې په نهار يو ګيلاس وڅښل شي. [3] (۱۰، م ۲۶)

د سپوږې درملنه:

د غز نيمه لمدې لښتې څوکي ته به اور واچول شي، کله چې يې اور واخېست يو ډول غوړه مايع ورڅخه څاڅي، دا مايع به په يو مسي لوښي کې وڅڅول شي، بيا به پر سپوږې کېښودل شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## خوشال بابا هم د سپوږمي په اړه دا ډول نسخه لري:

نیم، د نیه دواړه سره کړه – هر یو تول نیمه پیسه کړه [۴]
هم د شوې پاڼې روکه – پوره درې ښېرشاهــــي جوکه
بیا د ځوز وله یې مله کړه – څلــورم دا، درې هغه کړه
د پینځو پیسو مقدار کړه – ولې دا د هغو یـــــار کړه
همه واړه سره ګس کړه – په لنګوټي کښې یې تس نس کړه
له اوبو سره یې حل کړه – خپل مشکل وربانديې حـــل کړه
سره واړه کپړه چاڼ کړه – دا دارو راحت د ځان کړه
اوبه نوشې په نهاره – تعطیل مـــه کـــړه دلداره
څه خو پورې په چنبل کړه – ویې مږه ښه یې اتکل کړه
اته ورځې دا رنګ کار کړه – خدای دې روغ کړه خپل روزګار کړه
غوښې مه خوره نه کبونه – نه ترشي بادي ځیزونه
سپوږمۍ هرځای چې په تا وي – په دا کار به یې شفا وي
د خصیه د سپوږمي وروره – ښه دارو دي ویې ګوره
مجرب تجربه کار دي – د هر سپوږمي دا آزار دي

---

[٤] د خوشال طب نامه

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د ژبې (جبې) بله درملنه:

ژبې یا جبې هغه ناروغي ده چې ګومان کېږي د ماشوم ستونی په درد دی، د دې لپاره ماشوم د کلي یوې تجربه کارې ښځې ته وړل کېږي او د ((ولې)) په لښته ورته جبې ګوري، ځېنې ښځې یې د لاس په څلورمه ګوته ګوري. طریقه یې داده چې د ولې دوه لویشته نرۍ لښته به راوړي او په منځ کې به یې نري مالوچ تاو کړي، بیا به د مالوچو برخه د ژبې په ځانګړي[پخوا به سپبازول ګولۍ کارول کېدله] درمل کې ومښل شي، چې درمل واخلي، بیا به یې لښته قاطه کړي او ماشوم ته به یې په خوله کې ننباسي او ستونی (تالو) به یې ورباندې ښکته پورته کړي.

د ژبې درمل په دې ډول و: د ګلابو میده کړې پاڼې، تباشیر، سپین زنځ(لکه د مالګې په شان ماده ده، خاورې هم ورته وایي) دا به سره یو ځای کړای شول او د نسوار د وار په اندازه به د ژبې لپاره کارول کېدل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د پښو درد درملنه:**

یو موټی مالګه به په یو چام اوبو کې جوش کړای شي، چې کله دا ترکیب لږ شان سوړ شو، نو د پښو بندونه، پنجه او له ښنګرو پورته برخه به ورباندې مالش کړای شي، که لیمڅی و ښه تر ښه، که نه نو یوه تاري لته به تر پښو تاوه کړای شي. د مالګې دې ترکیب ته ((مالګوبی)) هم وایي.

**د قبضیت لپاره:**

ګل قند یو مشهور دودیز درمل دی، د اصیلو ګلابو پاڼې ټکول کیږي، بیا دا په شاتو کې ګډیږي او په مرتبان کې بندې ساتل کیږي، کله چې چا ته د قبضیت تکلیف پیدا شي، نو د یو نقل په اندازه به یوه شپه او بله شپه خوړل کیږي، تر څو د ناروغ قبضیت مات شي.

یادښت: که شات نه وي، نو پر ځای یې له ګوړې هم ګټه پورته کیدای شي، خو شات ډېر اغېزمن دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د قبضیت لپاره بله درملنه:**

که غټ کس د قبضیت ناروغي ولري، نو یوه ټوته چمبړخیال (د چمبړخیال پردې) به د شپې له خوا خیشتې شي او سهار په نهاره به ناروغ ته یو جام ورکړل شي. که عمل یې وشو ښه تر ښه، که نه بیا به یې هم تکرار کړي. نوي ماشوم ته یوه پیسه چمبړخیال په اوبو کې خیشت کېږي او په قاشوغه باندې ورته نیمه قاشوغه ورکول کېږي.

**د پښتورګو د کانړي علاج:**

د پښتورګو د کانړي ناروغۍ په کلیو او بانډو کې ډېرې دي، د دې لپاره څو ډوله فولکلوریکې درملنې شته، لومړۍ درملنه داده چې د ګیلاسو (الوبالو) ډکې، د چارمغزو پردې او د جوارو څڼې سره یو ځای واېشول شي او سهار په نهار یو ګلاس یاد جوش شوی درمل [له چاڼ کېدو وروسته] وڅښل شي، دغه درملنه د یوې اونۍ لپاره دوام پیدا کوي او ډېره ګټوره ده. په دې درملنې سره په پښتورګو کې واړه کانړي په حرکت راځي او

(c) ketabton.com: The Digital Library



داسې باور هم موجود دی چې په پښتورګي کې غټ کاڼي[چې د حالب له لارې یې وتل ممکن نه وي] ماتوي او اطراح کېږي.

بله درملنه د اصیلې مارکونډۍ په نوم یو ډول ګرد شان اغزی دی، چې په دښتو او شګو کې موندل کېږي، دغه مارکونډۍ به د چایو د وار هومره په دوه ګیلاسه اوبو کې جوش کړای شي، تر هغې جوش شي چې اوبه یو ګیلاس پاتې او نورې وچې کړي، بیا دې سهار په نهار دا اوبه وڅښي. کلیوال وایي چې دا درملنه تریوې اونۍ غځولای شي کوم جانبي عوارض نه لري.

د پښتورګو کاڼي بله درملنه:

د کورني چرګ شاتېنګه به لومړی وچه کړي، بیا به یې ښه مېده کړي او له ململ ټوټې به یې وباسي، بیا به یې سهار په نهاره څو سهاره له اوبو سره وخوري. دا د پښتورګو غوره علاج بلل شوی دی.

د پښتورګو د کاڼي بله درملنه:

یو پاو اوربشې به په دوه لیټره اوبو کې جوش کړی شي، بیا به له یوې لتې چاڼ کړای شي او اوبه به یې درې سهاره په نهار ناروغ ته ورکړي، له دې سره به د پښتورګو واړه کاڼي وغورځي او که خیری یا چرک یې لاره نو هم به ورسره لرې شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د پښتورګو بله درملنه:**

که په پښتورګي کې کاڼی وي، یا پښتورګی د چرک له امله درد کوي، نو هر سهار دی د زیتونو تېل یوه چای خوري قاشوغه په نهاره خوري، له دې سره به یې د پښتورګي کاڼی وغورځي او که خیری وي، نو پاک به شي.

**د پښتورګو بله درملنه:**

د چینار پوټکي او د جوارو بوټي بېخ (پنجه) به سره جوش کړای شي او څلور سهاره په نهاره به یو یو ګیلاس ناروغ ته ورکړل شي، د پښتورګو کاڼي به یې وغورځېږي او که خیری وي پښتورګي به یې پاک شي. دا هم وایي چې د شین بندکي ټکول او یو ګیلاس شیره څښل د پښتورګو لپاره ډېره ګټوره ده. د الوبالو ډنډې، چارمغزو پردې او د جوارو څڼې به جوش کړای شي او یو ګیلاس به په نهاره د څلورو یا پنځو ورځو لپاره ناروغ ته ورکړل شي، که کاڼی وي وبه غورځېږي او که چرک وي پاک به شي.

**د لوړ فشار درملنه:**

د لوړ فشار لپاره د هوګې استعمال ګټور دی، په دې سربېره د کرېړې (کریلې) خوړل، د کرېړې جوس نیم ګیلاس سهار مهال

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښښل، خمزوري دانې، ازغکی، زیتونو پاڼې او د غنمو د پاکو بوسو جوشول او یو ګیلاس ښښل د لوړ فشار لپاره کلیوالي نسخه ده.

ښځینه تکلیف او درد لپاره:

کله چې ښځینه و ته په خپل میاشتني تکلیف کې ستونزه پیدا شي، درد او برېښ ورسره وي، نو یو وار شین چای، مات کړی چارمغز له پوټکي سره او لږه ګوړه به سره جوش کړي، بیا دې یو ګیلاس ناروغې مېرمنې ته ورکړي. له دې سره به یې برېښ او درد آرام شي. دې درمل ته ((چاوه)) هم وایي.

د غاښونو بدبویی درملنه:

که غاښونه بدبویي لري او یا وری مېکروبي شوې وي، د لښتیو پر غاړه یو ډول بوټی دی، بندکی ورته وایي، دا وښو ته ورته خو لږ څه کلک بند بند بوټی دی دا به واخلي او څو ډکي به په لاس کې قوده کړي، بیا به یې پر خپلو غاښونو ومښي، له دې سره به غاښونه پاک شي، مېکروب به یې ووژل شي او بدبویي به یې له منځه لاړه شي، دا عمل دې یوه اونۍ تکرار کړي. همدا راز د دې موخې لپاره دنداسه هم استعمالېږي، چې هم غاښونه وربانديې پاکېږي او هم ورسره شونډې رنګ اخلي. د دنداسې کارېدنه ډېره مروجه ده او په شعر او شاعرۍ کې هم ترې ډېره یادونه شوې ده، لکه چې وایي:

د دنداسې خوله دې رانکړه –د سبو ډکه خوله دې څه میراتومه

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د پښو چاودنو او ګنده بوي درملنه:**

کله چې پښې چاودې وي او یا ترې بد بوی ځي، نو درملنه یې داده چې نکریزې به وریاندې پورې شي، له دې سره د پښو چاودونه ښه کېږي او د بدبویۍ درملنه هم ورسره کېږي. نکریزې په افغاني کلتور کې ډېرې مروجې دی او د سینګار لپاره هم کارول کېږي.

راځۍ چې ټول لاسونه سره کړو–سبا اختر دی د بابا کاله ته ځونه

**د پلۍ شوې خولې درملنه:**

سپین زنځ [یو ډول ښېښې ته ورته د مالګې په څېر توکی د] به په خوله کې ونیسي او اوبه به یې توکوي، له دې سره د خولې پلۍ ورکېږي او ناروغ شفاء مومي.

**د زخم قېصرۍ درملنه:**

کله چې کوم زخم بابېړی وکړي، وپړسېږي او زوې ترې روانې وي، دې حالت ته یې قېصري وایي، درملنه یې داده چې د غنمو په اوړو کې به لږ غوړي واچوي او حلوا شانتې به ترې جوړه کړي، پر زخم به یې کېږدي، دې ته ګزک حلوا هم وايي. له دې سره به د زخم قېصري ووځي او زخم به په جوړېدو شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د اسهال درملنه:

د سنځلې پاڼې به جوش کړای شي او یو ګیلاس به ناروغ ته ورکړل شي. په دې سربېره نیم پاو بادیان، لس دانې سپین لاچي او څلور دانې تور لاچي به سره مېده کړي، بیا به پکې لږه بوره ورګډه کړي، د اسهال ناروغ ته به یوه ډکه کپه له اوبو سره ورکړل شي، ډېره ګټوره درملنه ګڼل کېږي. یا دا چې شین چای به مېده کړای شي او د نسوارو وار په اندازه به ناروغ ته ورکړل شي. که ناروغ ته د پېچش تکلیف پیدا و، نو د کوکنارو وچې غوزې او د لېمو وچ پوټکي به سره مېده کړای شي او یوه کپه به د پېچش ناروغ ته ورکړل شي. دا درمل څو وخته ورکولای شي.

د صفرا کڅوړې د کاڼي درملنه:

د صفرا کڅوړې د کاڼي درملنې لپاره به له (۳۰-۴۰) ګرامه د اېلني تازه پاڼې په یو لیتر اوبو کې وخوټول شي، د ۴۸ ساعتونو په اوږدو کې دې د خوراک په منځ کې وکارول شي. یا دې د یوې لویې قاشوغې په اندازه په اوبو کې وخوټوي او هر وخت دې د خوړو نه مخکې یوه پیاله وڅښل شي، په دې شرط

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې د ایلنې پاڼې په سیوري کې وچې شوې وي. دغه درملنه د صفرا د کاڼي د له منځه وړلو لپاره ګټوره بلل شوې ده. ۵: (۷، م ۱۶۰)

د ماشوم د اسهال لپاره:

د ماشوم د اسهال لپاره به خوارډه ماسته په وړه قاشوغه ماشوم ته درې وخته ورکړل شي، اسهال به یې ورسره ښه شي. د غټ ناروغ لپاره چې د اسهال تکلیف ولري د امروت او کېلو خوړل ګټور بلل شوي دي. په دې سربېره د غټ ناروغ د اسهال لپاره کورنۍ کپه ډېره ګټوره ده، د کپې ترکیب په دې ډول دی چې یو پاو بادیان، نیمه توله تور لاچي، د نیمې تولې نیم شین لاچي به سره وټکول شي او بوره به پکې ګډه کړای شي، د اسهال او پېچش پر مهال ډېره ګټوره نخسه ګڼل کېږي.

د اسهال لپاره بله درملنه:

د ام زړی به مات کړای شي، نینې به کړای شي بیا به ښه مېده کړای شي، له بورې یا ګوړې سره به یوه کپه (نسوارو وار په

(c) ketabton.com: The Digital Library



اندازه) ناروغ ته له اوبو سره ورکړل شي، ډېره مجربه نسخه ګڼل کېږي.

سربدالي:

کله داسې وي، چې د محرقې ناروغۍ وروسته ناروغ ته دوامدار ګنګسیت او د سر درد پیدا شي، په دودیزه بڼه د دې علاج دا دی، چې د بادامو په غوړیو به خپلې شقیقې غوړې کړي او دې درملنې ته به درې یا څلور شپې ادامه ورکړي، د سر ګنګسیت به یې ورسره ښه شي.

د خېټې چینجیو درملنه:

په خېټه کې د هر ډول چینجیو لپاره به د خواږه انار څټې جوش کړای شي، یا د شفتالو پاڼې جوش کړای شي او ماشوم ته دوه قاشقې د وخت د درې ورځو لپاره ورکړل شي، نو چینجي به یې له خېټې وغورځېږي. دا درملنه د لویانو لپاره هم کارول کېږي. بل علاج یې دا دی، چې د دښتې وچ خړیږي به وټکول شي، چې مېده شول د نسوارو د یو وار په اندازه به ماشوم ته له اوبو یا شیدو سره ورکړل شي. که تازه خړیږي پیدا کېدل، نو یوه اندازه

(c) ketabton.com: The Digital Library



به پاخه کړای شي او ناروغ ته به ورکړل شي. له دې سره به یې د خېټې چینجي وغورځېږي او ناروغ به روغتیا ومومي.

د خېټې چینجیو دویمه درملنه:

که ګومان وي چې د ماشوم په خېټه کې به چینجي وي، یا یې رنګ زېړ او کم خونه وي، نو د جوار دانې په اندازه اینجه به ورکړل شي، له دې سره به یې د خېټې چینجي وغورځېږي او په لږه موده کې به یې رنګ ځای ته راشي.

د ملاریا علاج:

چره نک او شمکی (بوټي دي) به وټکول شي او یو ګیلاس جوس (اوبه) به یې د ملاریا ناروغ ته ورکړل شي. یا به زوال(بوټی دی) جوش کړای شي او یو ګیلاس اوبه به یې ناروغ ته ورکړل شي. په دې سربېره به ناروغ ته د ترو انارو یو ګیلاس اوبه ورکړل شي. البته دا درملنه د دریوو ورځو لپاره ده. له دې سره د ملاریا ناروغی علاج کېږي او ناروغ روغتیا مومي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ښارښت علاج:

ښارښت یو له هغو ناروغیو څخه ده، چې د حساسیت په بڼه په انسان کې پیدا شي، په کور کلي کې ورته ((سره مخه)) هم وايي. د دې کورنی یا فولکلوریک علاج دا دی چې ناروغ به یوه ورځ پر خپل سر او وچولي د ولې شنې پاڼې تړي. له دې سره به یې ښارښت ارام شي. کله چې دا ښارښت د لړمې په بڼه وي، چې د ناروغ پر بدن وړې پلۍ ته ورته چاپونه پیدا شي، نو ناروغ ته به سره کالي واغوستل شي او د سپېرکۍ لوګی به ورته وشي. دا درملنه به د درې یا څلورو ورځو لپاره دوام پیدا کوي.

د سوزاک علاج:

ځیګ ځیګکی او د دښتې ازغي، یا مارکونډۍ(یو ډول ازغی دی) سره ټکول کېږي، بیا یې یو ګیلاس جوس په نهاره د درې ورځو لپاره د سوزاک نارو ته ورکول کېږي.

د دې ناروغۍ په اړه خوشال بابا دا نسخه تجویز کوي.

دچمبې ګل درې درمه – دبادرنګ زړي اکرمه[٦]

٦ د خوشال طب نامه

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا ځلور درمه ټول کړه – همه واړه سره تول کړه
واړه ښه سره مېده کړه –اوبه ګرمې ورسره کړه
چې يې کښته کړې تر کومې – پرې به بول بسته دومې

## د سوزاک بله درملنه:

د انارو پوستکي جوشوي او ناروغ ته ورکول کېږي چې ويې څښي، په دې سربېره ناروغ ورباندې اودس هم کولای شي. دغه علاج د ښارښت لپاره هم ګټور ګڼل شوی دی، ناروغ کولای شي د انارو پوستکي جوش کړي او بيا ورباندې ځان ومينځي، يا ورباندې هغه ځايونه ومينځي چې ښارښت کوي.

## د شکر درملنه:

د مرخاڼۍ دانې او پاڼې به وټکول شي، له جوشولو وروسته به چاڼ کړای شي او بيا به نيم ګيلاس اوبه په نهاره څښل کېږي، دا درملنه په بدن کې شکره کموي او لوړېدو ته يې نه پرېږدي.

## د شکر دويمه درملنه:

ترخه (دانې دي) به نيني کړای شي، بيا به يې نيني مېده کړای شي او د نسوارو نيم وار په اندازه به په يو ګيلاس اوبو کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



واچول شي، سهار مهال به يې په نهاره څښي، د شکر لپاره مفيده درملنه ده.

د شکر درېيمه درملنه:

د پيپل ونې هغه زېلۍ چې د ونو په ډډونو پورې زوړندې وي دا غوڅوي او مېده مېده کوي يې، بيا يې په اوبو کې جوشوي، چې يخې شوې يادې ځېلۍ پکې خيشتې کړای شي او هر سهار يې د شکرې ناروغ ته يو يو ګيلاس په نهاره ورکوي. وايي چې شکره ورسره کنترولېږي.

د شکر څلورمه درملنه:

د سنځلو پاڼې جوشوي او يو ګيلاس په نهاره د شکر ناروغ ته ورکوي، کليوال په دې باور دي چې دغه درملنه په وينه کې شکر کنترولوي او لوړېدا ته يې نه پرېږدي.

د شکر پنځمه درملنه:

د زيتون پاڼې به جوش شي او درې وخته به يوه يوه پياله د چايو په شان وڅښل شي، وايي چې شکره ورسره کنترولېږي او لوړېدا ته يې نه پرېږدي. په دې سربېره د دوه ډوله خوړو

(c) ketabton.com: The Digital Library



استعمال هم د شکرې لپاره ګټور بلل شوی دی، چې یو پنمکی(یو ډول تریخ شین د نبات ښځو ته ورته بوټی دی) بل کړېږه چې پاخه شي او د شکر ناروغ ته ورکړل شي، د شکرې په کمېدا کې ګټور بلل کېږي او ولسي خلک په دې باور دي چې دا د شکرې ناروغ ته ګټه لري.

د شکر ناروغۍ شپېږمه درملنه:

بادرنګ د شکرې ناروغۍ د کمېدا لپاره ګټور بلل شوی، هغه کسان چې د شکر ناروغي لري د بادرنګ زیات استمال به یې ناروغي کنترول او راکمه کړي، بادرنګ د کاربوهایدریت مادې په لرلو سره په وینه او تشو بولو کې د قندي موادو د زیاتېدا مخه نیسي او د شکر ناروغانو ته ګټور بلل شوي. ۷
(۹، م ۱۴۲)

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د شکر ناروغۍ اومه درملنه:**

بربو به ميده کړای شي، هر سهار به په نهاره يو نسوارو وار په اندازه له اوبو سره د شکر ناروغ ته ورکړل شي، له دې سره به يې شکر کنټرول وي او نه به لوړېږي.

**د شکر ناروغۍ اتمه درملنه:**

د شپېې مهال به د درې دانې بېنډۍ (لېړو) بېخونه غوڅ او په نيم ګيلاس اوبو کې به ودرول شي، سهار د دې بېنډيو نه يو ډول مواد اوبو ته ښکته شوي وي، بېنډۍ به لرې کړای شي او د شکر ناروغ به په ګيلاس کې پرتې اوبه به په نهاره وڅښي. له دې سره شکر کنټرولېږي او د لوړېدا مخه يې نيول کېږي. دا درملنه تجربه شوې، اسانه او ارزانه ده.

**د وينې د غوړ درملنه:**

د غټې ګوتې هومره سونډ يا ادرک به د چايو پر ځای په يو چايبر کې واچول شي، که څو پاڼې چای هم ورسره واچول شي باک نه لري، بيا به د چای غوندې څو پيالې هغه ناروغ ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورکړل شي چې د وينې غوړ يې زيات وي، دا درملنه به تر يوې اونۍ دوام وکړي، کليوال باور لري چې د ناروغ د وينې غوړ ورسره کمېږي او روغتيا پيدا کوي.

د وينې لوړ فشار درملنه:

جمبېلک يو ډول د نګريزو په شان پاڼې دي، چې په جوشو اوبو يا چايو کې د چايو دوه واره په اندازه اچول کېږي[دا مهال د اوبو رنګ د چايو په څېر اوړي] دا د چايو په څېر څښل کېږي، د وينې لوړ فشار ټيټوي او ډېر ګټور درمل بلل کېږي. ياد بوټی په بدخشان ولايت کې پيدا کېږي.

د وينې غوړ بله درملنه:

د وينې غوړ د کمېدا لپاره د کدو پاخه سابه ډېر ګټور بلل شوي دي، دا سابه د کلسترولو معالجه کوي، دا سابه د A ويټامين په پراخه اندازه لري، پروټيني مواد پکې نه شته، ځکه خو د چاغوالي او بدن د وزن زياتېدا لامل نه ګرځي.[۸]: (۱۱، م ۱۴۰)

خله(سينه بغل):

(c) ketabton.com: The Digital Library



د خلې یا سینه بغل او د بدن د نرمښت لپاره او یا که په خېټه درد وي، فولکلوریک علاج یې دا دی چې کلیوال یو وار بارتنګ جوش کړي او ناروغ ته یې ورکړي له دې سهر خله (سینه بغل) شفاء مومي. که د خلې لومړۍ ورځ وه نو خاکشیر ورته جوش کېږي، دانې یې نه ورکوي او اوبه یې ناروغ ته ورکول کېږي، له دې سره د ماشوم سینه نرمېږي او ناروغي یې جوړېږي.

د پېچ ناورغۍ لپاره:

د پېچ ناروغۍ لپاره د (درې تخمه) په نوم ترکیبي درمل جوړېږي، چې پکې بارتنګ ، سپغول او خاکشیر سره یو ځای کېږي. بیا به خام یوه کپه ناروغ ته له اوبو سره ورکړل شي، دا درملنه تر درې ورځو هره ورځ درې وخته دوام پیدا کوي. بله درملنه یې د کوکنارو پردې او وچه دنیا ده چې سره میده شي او ناروغ ته ورکړل شي، ډېره مجربه نسخه ګڼل شوې ده.

د خلې بله درملنه:

د ماشوم د خلې یا سینه بغل لپاره بربو ښه میده کوي او د ناروغ ماشوم سینه ورباندې مالش کوي، بیا د ماشوم پر سینه تاوده

(c) ketabton.com: The Digital Library



مالوچ ترې. له دې سره د ماشوم ساه اخیستل ښه کېږي او سینه یې نرمېږي.

د ماشوم د تبې لپاره:

د ماشوم د تبې لپاره  د خاکشیر استعمال ډېر دود دی، د نسوارو وار په اندازه خاکشیر به په یو جامګي کې جوش کړای شي او اوبه به یې د شربت په قاشغو درې څلور قاشغې ورکړي، له دې سره تبه کمېږي او ماشوم د راحت احساس کوي، د ټوخي لپاره هم ورکول کېږي، خو له زیات استعماله یې ډډه کېږي، یوازې یوه ورځ یو وخت ورکول کېږي.

د شېرې ناروغۍ درملنه:

د شېرې (سرخکان) ناروغ درملنه په دې ډول ده چې د ناروغ ماشوم ډډې به لوڅې کړای شي، خاکشیر په لاس کې ونیسي او د ناروغ بدن ته به یې ورپو کړي، له دې سره به د چای یو وار په اندازه خاکشیر په اوبو کې جوش کړای شي او همدې ناروغ ته به ورکړل شي، له دې سره به یې شېرې په یو وار راووځي او د ناورغ زړه به ورسره سپک شي، چې شېرې راووت بیا به نور

(c) ketabton.com: The Digital Library



خاکشیر نه ورکوي، ځکه چې خاکشیر ګرم دی او زیات ورکول ناروغ ته د زیان لامل ګرځي.

د ماشوم د خلې (سینې) بله درملنه:

کله چې ماشوم خله وي، یا یې سینه بنده وي او ټوخیږي، نو کلیوال د نسوارو وار په اندازه سوډر ورته په سینه مښي، بیا وریاندې تاوده مالوچ ږدي او سینه یې په یو دسمال تړي چې مالوچ ترې ونه غورځیږي. له دې سره د ماشوم ټوخی بنه کیږي او آرام کوي.

د ټوخي علاج:

د ټوخي لپاره دودیز یا فولکلوریک علاج دا دی چې د چایو د وار په اندازه ((ګل خیرو)) چې یو یوناني بوټی دی جوشوي او په نهاره یې ناروغ ته ورکوي، دغه درملنه تر درې ځلورو ورځو دوام پیدا کوي او د غټانو وړوکي ناروغ لپاره کارول کیږي.

د ټوخي او تبې لپاره:

هغه ټوخی چې تبه ورسره ملګرې وي، په کورني طب یا فولکلوریکه درملنه کې ورته د ((زوفا)) په نوم شربت

(c) ketabton.com: The Digital Library



جوړېږي. دا شربت له دولسو یوناني بوټو او توکیو جوړ دی، چې عبارت دي له: زفا پنځه تولې، زیړه هرېړه دوه دانې، ګل بنفشه یو توله، سپستان دېرش دانې، مرخانۍ پنځوس دانې، خطمي یو توله، خبازي یو توله، پاتوڅنه(برګ سروېشان) پنځه تولې، قندهاری انځر شل دانې، ترنجبیل دوه تولې، ګلابو پاڼې دوه تولې.

د جوړولو طریقه یې داده چې په یو نیم چارک اوبو کې به دا دولس قلمه بوټي او توکي د شپې له خوا خیشته کړای شي، سهار به یې جوش کړي، تر هغه چې له یادو توکیو څخه درې پاوه اوبه پاتې شي، چڼ به یې کړي، یو پاو بوره به پکې واچوي، بیا به یې جوش کړي، چې کله یخ شي، دا د ((زوفا)) په نوم شربت دی. دا شربت به په داسې طریقه استعمالوي چې یوه قاشقه شربت او دوه قاشقه اوبه به سره یو ځای کوي او بیا به یې ناروغ ته ورکوي.

د ټوخلې علاج:

د ټوخلې لپاره فولکوریک علاج دا دی، چې د شینتاغي په نوم مرغه به ښکار کړي، بیا به یې پوخ کړي او ښوروا او غوښه

(c) ketabton.com: The Digital Library



به یې په ناروغ درې څلور وخته وخوري. دا علاج په کور – کلي کې ډېر منلی او د خلکو په باور اغېزمن دی. وايي چې له دې سره توخلې ښه کېږي او ناروغ شفاء مومي.

مستیاره که ښه مېده شي – د خوږې ګوړې سره شي[۹]
په نهاره یې څوک خورینه – هر رنګ توخې ورکوینه
تبه هم پرې صحت مومي – درد او برېښ پرې د ملا درومي

د معدې درد لپاره:

د معدې د درد لپاره دوه دانې تور لاچي ټکوي، پوستکي یې لرې کوي او دانې یې له لږې ګوړې یا بورې سره یو ځای کوي او د کپې په څېر یې له شیدو یا اوبو سره یو ځای ناروغ ته په نهاره ورکوي. وايي چې دا درملنه تر پنځو ورځو پورې خپل اثرات ښکاره کوي او د معدې درد ورسره ښه کېږي.

د معدې بله درملنه:

که ناروغ د معدې له درده شکایت لري، نو د نسوارو وار په اندازه وچ نانا( اېلنی) به مېده کړای شي او په یو پاو خوږو مستو کې به ګډ کړای شي، درې سهاره به په نهاره دا یو یو پاو

[۹] خوشال طب نامه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ماسته وخوري. د معدې تکلیف به یې ورسره ښه شي. دا درملنه د خېټې ناروغۍ (بې نظمۍ) لپاره هم ګټوره ده.

د ملا درد درملنه:

پنجري چې یوناني درمل دی او د زردالو ونې له کنډ څخه جوړېږي، د یو نسوار وار په اندازه به د ملا درد ناروغ ته ورکړل شي، له دې سره به یې د ملا تکلیف ښه شي.

د جنسي کمزورۍ درملنه:

د جنسي کمزورۍ او د ملا د درد لپاره درې سهاره په نهاره د دوه وطنیو هګیو زېړ په یو ګیلاس پخو شیدو کې یو ځای کېږي او بیا څښل کېږي. له دې سره د ملا درد ښه کېږي او جنسي کمزورتیا هم ورسره له منځه ځي.

خوشال بابا په دې اړه دا نسخه وړاندې کوي:

مالکونډۍ واخله میده کړه – ښې شکرې ورسره کړه[10]

یو یو کف په هر سبا خوره – یو یو کف په هر بیګاه خوره

هیڅ پرهېز ورسره نه شته – نه له مالګې، نه نور څه شته

ستا شهوت به صد چندان کا- په زوړوالي به دې ځوان کا

[10] د خوشال طب نامه

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د پېچ علاج:

د پېچ يا په کولمو کې د غوټې او درد لپاره په کور کلي کې خلک د ((درې تخمه)) په نوم يو درمليز ترکيب جوړوي، دا ترکيب عبارت دی له: خاکشير [د نسوارو وار په اندازه]، بارتنګ د نسوارو وار په اندازه او سپغول د نسوارو وار په اندازه.

دا درې درمله به سره يو ځای کړي، په دوه ګيلاسه اوبو کې به جوش کړای شي او بيا به ناروغ ته ورکړل شي. چې درې ورځې دا درمل تکرار شي ناروغ ورسره روغتيا مومي. په دې سربېره د پېچ لپاره بله درملنه داده چې ماسته او سپغول به سره ګډ کړای شي او ناروغ ته به که ماشوم وي، نو د وخت يوه قاشوغه او که ناروغ غټ وي، نو يوه ماست خوري کاسه ماسته دې وخوري او ځآن دې پرې موړ کړي.

## د غوږونو درملنه:

دا درملنه خورا عامه ده، چې کله ماشوم ژاړي، يا داسې ماشوم وي، چې له د غوږونو له درده شکايت کوي، يا مشر سړی وي، چې غوږونه يې خوږېږي، نو د غواوو غوړي به په اور سره کړي، چې لږ شان تړم شول، مالوچ (پاغونده) به پکې لمده کړي او د ناروغ په غوږ کې به دوه څاڅکي وڅڅوي، د غوږ د باندې برخې به هم ورباندې غوړې

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړي. له دې سره د غوږ درد ارامېږي او ناروغ روغتیا مومي. دا درمله د ستوني درد او تېوخي لپاره هم کارول کېږي.

د غوراجې درملنه:

غوراجه هغه ناروغي ده، چې په غوږ کې دننه دانه پیدا شي او بیا ترې اوبه(زوې) رواني وي، د دې لپاره د هوګې په اندازه پیاز او د بادامو په اندازه د غواوو غوړي په یوه قاشوغه اوبو کې سره په اور ایښودل کېږي، چې جوش شول، نو لږ به ورته وکتل شي، بیا به د غوراجې په غوږ کې ناروغ ته دوه څاڅکي وڅڅول شي. دا درملنه په درې یا څلورو ورځو کې خپل اثرات ښکاره کوي، دانه وچېږي او ناروغ ورسره صحت پیدا کوي.

د ناست غږ درملنه:

چې د چا غږ ناست وي، نو زنکۍ (زیره) به په شیدو کې جوش کړای شي او ناروغ ته به دوه سهاره یو یو ګیلاس په نهاره ورکړل شي، له دې سره به یې غږ خپل حالت ته راوګرځي.

د نظر کموالي یا شبکورۍ درملنه:

د وړوکي څاروي تورۍ به په سیخ کې پوخ کړای شي او ناروغ ته به څو ورځې ورکړای شي، له دې سره به یې د سترګو د لید(دید)

(c) ketabton.com: The Digital Library



کموالی له منځه لاړ شي او که شبکوري لري، نو هم به ورسره ورکه شي.

د سترګو ښاربښت درملنه:

کله چې سترګې سوزي، خاربښت کوي، اوبه کوي او یا یې د لمر رڼآ ته نه شي غړولای، نو درملنه یې داده چې یو نسوارو وار په اندازه پتاسه رنګ به لږ تود شي، بیا به وټکول شي، له رنجو سره یو ځای به په سترګو پورې شي. دا درملنه درې ورځې دوام پیدا کوي او ورسره د سترګو درد او سوخت ښه کیږي.

د سترګو لید زیاتېدا:

د سترګو د لید یا ((دید)) د زیاتېدا لپاره د ګازرو خوراک تر ټولو زیات مشهور دی، ګازرې د سترګو دید زیاتوي، بدن پیاوړی کوي، قبضیت لرې کوي، د زړه درزا کموي، د مثانې کاڼي ماتوي، د تشو بولو سوخت له منځه وړي او د زیړي لپاره هم ګټورې بلل شوې دي.

د وینې درولو درملنه:

کله چې د کوم کس سر یا کوم بل ځای زخمي شي او وینه یې نه بندیږي، بوره به وټکول شي، یوه ټونګه رانجه به هم پکې واچول شي

(c) ketabton.com: The Digital Library



او پر زخم به پوري شي، یا د زخم خوله به تري ډکه شي. له دې سره وینه دریږي او ټپ یا زخم ښه کېږي.

د زخم بله درملنه:

د زخم بله درملنه داده، چې یو لوېشت تاري ټوکر ته به اور واچول شي، ایره به یې پر زخم کېښودل شي، تر څو وینه یې ودریږي، دا درملنه په کور کلي کې زښته زیاته رواج ده.

د ټپ یا زغم بله درملنه:

د زخم د پاسه د پسه د لم پوستکی د دوه یا درې ورځو لپاره وربانديې تړل کېږي، وایي چې له دې درملنې سره زخم ښه کېږي او ناروغ شفاء مومي.

د مات لاس یا پښې درملنه:

کله چې د کوم کس لاس یا پښه ماته شي، نو په کور- کلي کې یو نیم کس د ماتې ګوډې کار کوي. طریقه داده چې دورمې( غوړګې) به پر منځ بېلې شي، بیا به پر یوې مناسبې ټوټې د هګۍ زېړ ووهل شي، مات لاس به په حکمت کش کړای شي او چې کله یې یقین خاص شو، چې لاس خپل ځای ته راغی، نو د هګۍ پټۍ به تري تاوه شي، د ټوټې په دویم پټ کې به دورمې کېښودل شي او ټوټه به تري

(c) ketabton.com: The Digital Library



تاوه شي، دا تاوه کړې تو ته او پټې به لس یا څوارلس ورځې د ناروغ تر لاس تاوه وي، تر څو مات هډوکی جوش واخلي.

که فرضاً هډوکي سم جوش نه واخېستی او کوږ جوړ شوی و، نو د بیا ماتېدو یا پخواني مات حالت ته د راګرځېدو لپاره وربانديې جوش کړي بانجان او خام کب(ماهي) ږدي، د ماهي د ایښودلو طریقه داده چې ماهي به په منځ دوه پړکه کوي، خېټه به یې تشه او پر مات شوي لاس به یې یوه شپه او ورځ وتړي، لاس بېرته ماتېږي او د دویم ځل تړلو لپاره اماده کېږي.

## د ټکېدلي ځای درملنه:

که کوم کس له بامه راغورځېدلی وي، یا له اوښ، اس یا له خره پرېوتی وي، یا چا بدبد وهلی وي، یا یې لاس یا کوم بل ځای ټکېدلی وي او له امله یې سړی ضعف او بې سدۍ حالت ته رسېدلی وي، نو درملنه یې داده چې شوده به پاخه کړي، وطنۍ دوه یا درې هګۍ به د شیدو په ګیلاس کې ماتې کړي، د غواوو سره کړې غوړي به وربانديې واړوي، لږه بوره یا ګوړه به پکې هم واچوي او ناروغ ته به یې ورکړي.

د ټکېدلي ځای د درملنې لپاره یوه بله نسخه دا هم ده، چې کورکمن به په غوړیو کې سور کړای شي، بیا به پر ټکېدلي ځای وتړل شي. له دې سره ټکېدلی ځای ښه کېږي او دردونه یې آرامېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د پښتې واړه اوښتل:

کله چې پښه کاوا که کېښودل شي، یا بېوا که قاط شي، برېښ کوي یا وپړسېږي، کلیوال وایي چې واړه یې اوښتي دي، د دې علاج لپاره به لیمځی لږ تود کړي، د شړشمو په تېلو به پښه غوړه کړي، مالګوبی به وریاندې ووهل شي، بیا به وریاندې تود لیمځی وتړي، په دوه درې ورځو کې پښه ښه کېږي او درد یې له منځه ځي.

د ګرمۍ وهلي او تبې لپاره:

زاول (زول) یو ډول غرنی بوټی دی، زېړ رنګ لري په اوبو کې به جوش کړای شي او درې ورځې یو یو ګیلاس اوبه یې هغه ناروغ ته ورکول کېږي، چې ګرمۍ وهلی وي او یا یې تبه وي. شاطره هم د تبې لپاره ګټور بوټی ګڼل کېږي، شین بوټی دی، تکول کېږي او اوبه یې ناروغ ته د تبې لپاره ورکول کېږي. شاطره د سرې مخې(حساسیت) او پوستکي ناروغیو ته هم ګټوره ده.

د سالنډۍ درملنه:

د سالنډۍ یا نفس تنګۍ لپاره په کور کلي کې غوره علاج دا ګڼل شوی، چې سویه(خرګوش) به ښه سترې کړي، بیا به یې حلاله کړي، یوه قاشوغه توده وینه به یې ناروغ ته ورکړي، چې لومړی یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



غړغړه او بیا یې تېره کړي، له دې سره سالنډي له منځه ځي او هم ورته د شین تاغي غوښه او ښوروا ګټوره بلل شوې ده.

د کمزورتیا درملنه:

که ناروغ د کمزورتیا احساس لري او ناروغۍ ځپلی وي، نو د وطنیو چرګانو (پخې چرګې) ښوروا به ورکړل شي، تور مرچ استعمال ورسره ډېر ګټور ښودل شوی، وایي چې له دې سره به ناروغ تقویه شي او کمزوري به یې لرې شي.

د دانې درملنه:

کله داسې وي چې د ناروغ پر بدن غټه دانه راوخېژي، ولسي درملنه یې داسې ده، چې پر یوه ټوټه باندې به لوند شوی سپغول واچول شي او بیا به دغه پټۍ پر دانه وتړل شي، دا پټۍ دانه پخوي، دانه سر پیدا کوي او بیا ماتېږي، چې ماته شي، نو په فشار به وینه او زوه ترې وایستل شي او د دانې زړی به وایستل شي.

بله طریقه یې دا ده چې د خمیرې سره به لږه ایره ګډه کړي او خیشت شوی بارتنګ به ورسره یو ځای کړي دا پټۍ به پر دانه وتړي.

دریمه طریقه یې د ګزک حلوا ده، هغه داسې چې لږ غوړي په یو لوښي کې په اور بږدي، بیا پکې لږې اوبه اچوي، لږ اوړه هم ورسره

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګډوي، چې په اور سره شول ترې پټې جوړوي او پر دانه یې ږدي، په ورځ دوو کې دانه سر پیدا کوي، ماتیږي او زوه یې وځي.

د خېټې پړسوب او بادو درملنه:

د هغه ناروغ درملنه چې د خېټې پړسوب ولري، یا فکر کیږي، چې بدن یې اوبه اخیستې، یا د بدن له بادو شکایت لري، د دې لپاره یو ترکیب جوړیږي، چې عبارت دی له: صبېر یو توله، شحمې انزل(مرغونی) یو توله، سقمونیه یو توله، توره هرېړه( هلېله) یو توله. دغه څلور توکي به بېل بېل وټکول شي او په درې سوه ګرامه شاتو کې به ګډ کړای شي، بیا به ناروغ ته د یوې جوارو دانې په اندازه هره شپه په مړه خېټه ورکول کیږي. دا درملنه به تر یوې میاشتې دوامداره ساتي. یوناني طبیبان په دې باور دي، چې له دې درملنې سره د خېټې پړسوب، چاغوالي، بادو او په بدن کې د اضافي ذېرمه شویو اوبو مخه نیول کیږي او ناروغ اضافي وزن بایلي.

خوشال بابا د هلېلې په اړه وايي: [11]

چې هر رنځ لره فایده ده – هلېله ده هلېله ده
هلېله شفاء د تن ده – هم د مرد ده هم د زن ده
که درست عمر یې څوک خورینه – هېڅ علت به نه ورځینه

[11] د خوشال طب نامه ۱۹۱ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ب: روحاني درملنه:

## د زېړي روحاني درمنله:

ځېنې خلک په هر کلي کې شته، چې د زېړي لپاره دم و دعا کوي، ناروغ په قرآني ايتونو دموي او د څو پرلپسې ورځې لپاره يې د دم لپاره راغواړي. ناروغ ته پرهېز هم توصيه کوي او د څو ورځې په تېرېدو سره د ناروغ په سترګو کې زېړ والی په کمېدو شي او ناروغ شفا پيدا کړي. زېړی د فاتحې په سورت د اوه ځله په ويلو سره درې ورځې دمېږي.

## د مارچيچلی روحاني درملنه:

د مار چيچلي لپاره روحاني علاج د ايات کرسي په مبارک ايات د ناروغ دمول دي، طريقه يې دا ده چې يو روحاني شخص چې اجازه[12] ولري راځي او مارچيچلی په داسې انداز دموي، چې چيچل شوي ځای ته يې د لاس په راښکلو زهر راټولوي او پرله پسې څو څو ځله په ياد مبارک ايت ناروغ دموي. کله چې زهر بېرته چيچل شوي ځای ته راټول شول، نو بيا يې د لاس د

[12] اجازه دې ته وايي چې دمګري بايد د دمولو لپاره له کوم روحاني شخص څخه د دمولو اجازه ترلاسه کړې وي

(c) ketabton.com: The Digital Library



فشار یا په خوله د کش کولو له لارې د ناروغ له بدنه باسي، چې له دې سره د ناروغ وجود سپک او دردونه یې کم شي.

د مار چیچلي بله درملنه:

مار چیچلی په سورت فاتحه (الحمدلله) باندې یوولس ځله دمېږي، له هر ځل ویلو دمخه به بسم الله الرحمن الرحیم وایي. زهر به د لاس په کشولو هغه ځای ته راټولوي، چې چیچل شوی دی. په همدې طریقه مار نیول کېږي هم.

(م، ۲)

د مچۍ یا لړم چیچلي درملنه:

که کوم کس مچۍ یا لړم وچیچه، نو په سورت اخلاص (قل هو) باندې دې اوه ځله دم کړي. په اوه ځله قل هو الله احد ... او درې ځله درود شریف ویلو باندې په مچې یا غومبسې یا د مچیو په چک چوف کولو سره مچې نیولای شې، نه دې شي چیچلای، خو په دې شرط چې اجازه ولري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د سینې ناروغۍ روحاني درملنه:

د سینې ناروغان د فاتحې په سورت څو ورځې هره ورځ دمېږي او هر ځل ورباندې اوه ځله سوره فاتحه (الحمدلله) ویل کېږي. الم نشرح لک صدرک... باندې هم دمېږي.

د سترګو د ګل روحاني درملنه:

په یو مسي لوښي کې به لږې اوبه واچول شي، اوه دانې غنم به د سورت یاسین په تلاوت په داسې ډول دم کړي چې کله هر ((مبین)) ته رسي، نو یوه دانه غنم به ورباندې دموي، د بسم الله په ویلو به یې د سترګو له ګله چاپېره ګرځوي او بیا به یې په مسي لوښي کې په پرتو اوبو کې اچوي، تر څو ټول سورت وویل شي او اوه واړه غنم دانې اوبو ته وغورځوي. دا غنم دانې به بیا په پاکو روانو اوبو کې غورځوي. دا دمول اوه ورځې دوام پیدا کوي او الله(ج) د سورت یاسین په برکت د سترګې ګل لرې کوي. دا درملنه ډېره مجربه ده.

د غوږې شلېدلو (شکېدلو) روحاني درملنه:

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله چې د یو چا غوبنې وشلېږي، یا په ملا کې یې څرک وشي، چې برېښ هم ورته وایي، نو دردمنه برخه په لاس مښل کېږي او د فاتحې مبارکې سورې په درې ځلې قرآت کولو دمېږي. دا درملنه درې ورځې دوام پېدا کوي.

د غاښ درد روحاني درملنه:

د غاښ د درد لپاره پنځلس ځله د لیلاف قریش سورت لوستل کېږي او د یوې شنې ونې د لښتې په غوڅولو سره غاښ دمېږي. طریقه یې داده، چې لومړی دمګری یوې شنې ونې ته درېږي، د شنې ونې یوه نرې لښته په لاس کې نیسي، بیا پنځه ځله د لیلاف قریش مبارک سورت وایي، بیا ناروغ ته وایي((په حکم د خدای سره ستا د غاښ چینجی غوڅ کړم)) ناروغ وایي: ((هو)) بیا د لښتې یوه برخه غوڅه کړي او لرې یې وغورځوي، بیا پنځه ځله یاد سورت لولي، بیا ناروغ ته وایي ستا د غاښ چینجی غوڅ کړم، هغه ورته وایي: ((هو)) بیا د لښتې بله برخه په چاقو غوڅه کړي، بیا پنځه ځله هماغه مبارک سورت وایي او پر ناروغ غږ کوي، چې ستا د غاښ چینجی غوڅ کړم، ناروغ

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې کله د دربیم ځل لپاره ((هو)) وکړي، نو وربانديې چوف وکړي او ورته ووايي چې ستا د غابښ چینجی غوځ شو.

د خلې (سینه بغل) درملنه:

خله یا سینه بغل درې ځله په درود شریف دمېږي، د درې ورځو لپاره، د فاتحې په سورت هم څلوېښت ځله دمېږي.

د غلنکې درملنه:

غلنکه هغې ناروغۍ ته وايي چې د یو کس د سترګې په یوه برخه کې دانه پیدا شي، په کور کلي کې یې روحاني علاج دا دی چې دوه ځله الحمدلله او درې ځله سورت اخلاص( قل هو الله) باندې هره ورځ د درې ورځو لپاره دمېږي. طریقه یې دا ده چې لُوټې به دم کړای شي او له سترګې به هره لوټه د بسم الله په ویلو سره تاوه کړای شي، بیا به دا لُوټې په اوبو کې واچول شي، چې ویلې شي.

(م،۲)

د غوږدرد درملنه:

(c) ketabton.com: The Digital Library



که د چا غوږ درد کوي، نو پنځه ځله د بسم الله الرحمن الرحیم په ویلو سره په : (أَلَمْ نَشْرَحْ لَکَ صَدْرَکَ...) بشپړ سورت باندې دمیږي.

(م،۲)

د شري(سرخکان) درملنه:

هغه ماشوم چې شرى ورباندې ختلى وي، په (( چهار قُل)) باندې به لږې غټې وريجې درې ځله دم کړي، بيا به ناروغ ته هره ورځ اوه دانې وريجې ورکوي، چې روغې يې تېرې کړي، له دې سره د شري ناروغی کمېږي او ناروغ روغتيا مومي.

(م، ۲)

د زخو درملنه:

د جمعې په مبارکه ورځ د جمعې له لمانځه وروسته به په اوداسه باندې په دې مبارک ايات (لا إله إلا الله وحده لا شريک له، له الملک وله الحمد وهو على کل شيء قدير)درې ځلي يوه اندازه اوربشي دم کړي، بيا به هره اوربشه له يوې زخې تاوه وي، دغه اوربشې به بيا په نمجن ځای کې ښخوي چې ورستې شي. په داسې ځای کې دې نه ښخوي چې د شنه کېدو وېره يې وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



که د یکشنبې په ورځ یې دموي، نو پورتنی مبارک ایت به په ((می)) یا میو دانو باندې چوف کړای شي او طریقه یې همدا ده، چې له زخو تاوه ولو وروسته به یې په نمجن ځای کې ښخې کړي.
(م،۲)

ښځه چې په اولاد دردمنه وي:
هغه ښځه چې په اولاد دردمنه وي او د اولاد د پیدا کېدا شېبې شماري، دوه ډوله روحاني درملنه ورته تر سره کېږي، یو ډول یې دا ده چې ساخت ورته لیکل کېږي او بیا دغه ساخت په اوبو کې مینځل کېږي او دردمنې ښځې ته ورکول کېږي. په ساخت کې دغه مبارک ایات لیکل کېږي: (لَا يَسْتَوِي أَصْحَابُ النَّارِ وَأَصْحَابُ الْجَنَّةِ أَصْحَابُ الْجَنَّةِ هُمُ الْفَائِزُونَ)
بله طریقه یې د تاویز ده چې دغه مبارک ایاتونه پر سپین کاغذ لیکي، تاویز کوي یې او ناروغې مېرمنې ته یې ورکوي:
إِذَا السَّمَاءُ انْشَقَّتْ O وَأَذِنَتْ لِرَبِّهَا وَحُقَّتْ O وَإِذَا الْأَرْضُ مُدَّتْ O
د ستوني درد درملنه:

(c) ketabton.com: The Digital Library



په کور کلي کې چې د چا ستونی درد کوي، مشران وايي چې هډي يې دي، يا هغه ناروغان چې په ستوني کې يې غوټې (تانسلونه) وي او له درده شکايت کوي، کليوال يې هډي بولي، د هډي نيول يا هډي مښل هغه طريقه ده چې د لاس په مړوند او يا د پښې په پنډۍ کې مښل کېږي. طريقه داده چې يو کس چې د هډي مښلو اجازه ولري د ناروغ لاس نيسي او د مړوند برنۍ برخه د خپلې غټې ګوتې په فشار سره مښي، داسې ويل کېږي چې کله په ستوني کې غوټې پيدا شي، نو قيصري يې د لاس مړوند يا د پښې پنډۍ ته وځي او هلته غوټې پيدا کېږي، کله چې دا غوټې ومښل شي، نو مانا يې داده چې د ستوني غوټې ورسره هوارېږي او ناروغ شفا مومي. په پنډۍ کې يې د مښلو طريقه همدا ده، د پنډۍ په منځنۍ برخه کې دا غوټې مښل کېږي، خو بايد وويل شي چې د مښلو پر مهال په سورت فاتحه (الحمدلله) باندې اوه ځله دمېږي او درې ورځې دا کړنه ترسره کېږي.

د نزلې بنديدو درملنه:

(c) ketabton.com: The Digital Library



د نزلې بندېدلو ولسي اسانه او ارزانه درملنه داده، چې ځېنې مشران خلک له ځانه سره ملغوزي نسوار ګرځوي، کله چې یې پوزه بنده وي او یا د زکام پر مهال د پوزې د بندښت نه شکایت لري، نو یوه ټونګه ملغوزي نسوار په پوزه کې کش کوي، له دې سره پرنجېږي او نزله یې خلاصېږي.[۱۳]

د پښې رګ نیول:

کله ناروغ د پښې له رګه شکایت لري او وایي چې پښه یې (رګ نساء) دی، یا دا چې د پښې رګ یې له پښې نیولې تر ملا پورې درد کوي، دا مهال ناروغ سخت په تکلیف وي او ډاکټران ورته د عملیاتو توصیه کوي، روحاني علاج یې دا دی یو کس چې اجازه لري د ناروغ رګ نیسي، یا دا چې دې درملنې ته ((رګ نیول)) وایي. طریقه داسې ده چې ناروغ به سم دم ودرېږي، د اجازې خاوند به د ده شاته کښېني، څو ځله الحمدلله شریفه به ووایي، بیا به د ناروغ رګ د پوندې د پاسه (دپلو په برخه کې) په دوو ګوتو ټینګ ونیسي او له دمولو

[۱۳] ملغوزي نسوار له پساریانو سره پیدا کېږي، عیناً نسوار دي خو څه خوشبویي یې پکې ګډه کړې وي

(c) ketabton.com: The Digital Library



سره به وربانديږ دومره فشار راوړي، چې يا به ناروغ چغه وهي او يا به بې حسه کېږي، دا رګ نيول دوه يا درې ځلې د درې ورځو لپاره نيول کېږي. هغه کسان چې رګ نيسي وايي چې دغه رګ د بل رګ تر فشار لاندې راغلى دى، د وينې جريان يې تر فشار لاندې دى، کله چې ونيول شي د وينې جريان بند شي او د ډېر فشار له امله وينه پر هغه رګ روانه شي چېرته چې مانع وجود لري. په دې ترتيب ډېرى ناروغان وايي چې د رګ له نيولو سره يې مشکل حل کېږي او ډاکټر يا عملياتو ته يې اړتيا نه پيښېږي.

ج: خرافاتي درملنه:

د زېړي درملنه:

د زېړي خرافاتي درملنه داده چې د کوم زيارت ((بند)) به د زېړي ناروغ په غاړه کې واچوي. ((بند)) له يو ډکي(لرګي) تاوشوى تار دى، چې په زيارت وهل شوى، يا د زيارت مجاور دم کړى او د تبرک په نوم ناروغ ته په غاړه کې اچول کېږي. [په ننګرهار کې د ګردي غوث زيارت بند ډېر مشهور دى او د زېړي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ناروغان يې په غاړه کې اچوي.] يا ناروغ زيارت ته بيايي، د ننګرهار د ښېوې ولسوالۍ نه د کونړ پر لور د نورګل اړونده سيمه کې د لويې لارې پر سر يو زيارت د زېړي بابا په نوم شهرت لري، چې ځينې کسان ورځي او د زيارت نه ناروغ ته بند راوړي.

د پښو بادو ( درد ) درملنه:

په کور کلي کې د پښو د بادو(درد) لپاره خرافاتي علاج دا وي چې کليوال زيارت ته ځي او د قبر کاڼي په خپلو پښو مښي، يا په زيارت کې څو پرلپسې ورځې تېروي، هلته لمونځونه کوي او د خپل تکليف د ښه کېدو سوالونه کوي. [د ننګرهار، ښېوې ولسوالۍ د شګې په سيمه کې ياسين بابا زيارت د بادو لپاره ډېر مشهور دی او له لرې لرې ځايونو ورته خلک په دې نيت څلور يا اوه پنجشنبې راځي، يا په زيارت کې شپې کوي]

د مارچيچلي درملنه:

د مارچيچلي لپاره خرافاتي علاج پر ناروغ د ځينو منترونو ويل دي، چې په اسلام مبارک دين کې اساس نه لري. ځينې

(c) ketabton.com: The Digital Library



پاړوګران په کور کلي کې مارچيچلی په منتر دموي او د لاس په کش کولو غواړي د مار خپاره شوي زهر بېرته چيچلي ځای ته راغونډ کړي. دلته موږ يو منتر د بېلګې په توګه وړاندې کوو.

کيان کيان به نام خدا، خدای هر دو جهان، سه سرور و سه سلطان، کش کرو به نام مردان، به هودی شيخ فريدالدين شکرګنج مددوار. تو بکش زهر هفتادو دو ګروه مار و هفت ګروه غندل، و نودو نه ګروه زنبور و عقرب و سګ ديوانه. از همين ادمي، سر از مغر، از ګوشت از پوست، از رګ از پا، فرايد به هوده ی بابا ادم صفي الله، به هوده ی نوح نجي الله، به هوده ی موسی کليم الله، به هوده ی عيسی روح الله. هدر شو بدر شو ای زهر ( مار )[14] به حق يا پير يا مرشد يا پيشوا، به حق محمد مصطفی به حق لا اله الا الله محمد رسول الله به حکمی خدا، به اجازه ی پير استاد.

(م، ۴)

[14] دا منتر د مار، لړم، غونبسې، مچې، لېوني سپي او غونډل د چيچلي ناروغ لپاره ويل کېږي، کله چې هدر شو، بدر شو ته ورسي بيا نو د هر هغې حشرې نوم اخلي چې دا ناروغ يې چيچلی وي. که مار وي د مار، که مچۍ وي د مچۍ او که د ليوني سپي...

(c) ketabton.com: The Digital Library



پهغوږ کې د حشرې ننوتلو علاج:

که په غوږ کې کوم مېږی، ګونګوټه، ماشی، یا کومه بله حشره ننوتله، نو د را ایستلو لپاره یې یو منتر دی، طریقه یې داده چې غوږ به ښکته ونیول شي او ټکان به ورکول کېږي او دا منتر به ورباندې تر پنځو ځلو لولي. منتر په لاندې ډول دی.

((پردت، پردت، پرداتي، کراماتي، کُنادي، کېږي، وېږي، اوتي مېږي چل، به حُکمې خدا به اجازه ی پیر استاد.))

(م، ۴)

ښځه چې په اولاد دردمنه وي:

کله چې د ښځې ماشوم پیدا کېږي او په اولاد دردمنه وي، نو د درد د کمولو او ماشوم په اسانه پیدا کېدا لپاره یې خُرافاتي درملنه دا ده چې یو منتر درې ځله په توش قلم یا پنسل په هګۍ باندې لیکل کېږي او هګۍ دردمنې ښځې ته ورکوي، چې په لاس کې یې موټی کړي او د درد پر مهال په هګۍ باندې لږ لږ زور راوړي. منتر په دې ډول دی: (( مراجایزې، خرې مرا جایزې، زن دهقان را زاید یا نه زاید.))

(c) ketabton.com: The Digital Library



(م، ۲)

**د بد غږ درملنه:**

که یو ماشوم نوی پیدا شوی وي، یا کوم ماشوم سنت شوی وي، یا یې پر بندن کوم زخم وي، یا د غټ سړي پر بدن زخم وي، له دې وېرې چې بد غږ یې ونه وهي، یا د بېلماځو ښځو او سړیو غږ ورباندې ورنه شي، نو د فېروزې ګوته به په لاس کړي. ماشوم ته به سلېمانۍ مرۍ په پښه کې واچول شي. که ماشوم نوی سنت شوی وي، نو د سنتې شوې (پرې شوې) غوښې پوټې به په تار کې واچول شي او په پښه کې به یې ورته د څو ورځو لپاره وتړي، ځینې کلیوال په دې باور دي چې دا کړنه د بد غږ مخه نیسي.

**د ماشوم د وېرې او ډار درملنه:**

که ماشوم په خوب کې ژاړي، زړه یې شتهنکې وهي او ګومان کېږي، چې وېرې اخیستی، یا د پېریانو د سیوري وېره ده، نو په یو تار کې به د لېوه غاښ، وړوکی چاقو، بربو او کنجکه واچول شي او د ماشوم په سوزنې کې به ماشوم ته پر ټټر بند کړای شي، یا دې ورته د بالښت لاندې کېښودل شي. ویل کېږي چې دا د بد غږ او د پېریانو د سیوري لپاره ګټور دی او د ماشوم وېره ورسره ختمېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



حیواني دودیزه درملنه:

الف: دودیزه څارویزه درملنه:

د سورنګي: (یخ وهلي) څاروي درملنه

دا هغه ناروغي ده، چې څآروی د شپې مهال په ژمي کې یخ ته پاتې شي، نو په دې مرض اخته شي. د ناروغۍ نخښې دادي چې د څاروي تبه وي او له خولې یې کیاڅې (اوبه) ځي. د دې ناروغۍ د علاج لپاره کلیوال د ګوړې یا بادیانو شربت جوړوي او په یوه ټوټه ډوله ناوه کې یې څاروي ته په خوله کې اړوي. په دې سربېره پر څاروي برستن تړي او له یخه یې ساتي [شنه بادیان د ګوړې له شربت سره ورکول د څاروي برېښن او درد ته هم ښه دي]برستېن تر هغه پر څاروي تړلي وي، تر څو ښه شوی نه وي او یاده درملنه په اونۍ کې درې ځلې تکرارېږي.

د څاروي پړسوب:

کله چې څاروی ((مله)) وخوري یا د بلې ناروغۍ له امله ورته د ګېډې پړسوب پیدا شي، نو څو ډوله درملنه لري. لومړی دا چې ایلنی[شین وي که وچ] په شړومبه کې څاروي ته په خوله کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



واړول شي. دویم ډول یې دا ده چې د چره ایز ټوپک د کارتوس باروت(دارو) په کوچو یا شړومبو کې څاروي ته ورکړل شي. درېیم او وروستی علاج یې دا دی چې د څاروي د تشي په برخه کې یو وړوکی سوری وکړای شي او په دې سره یې په خېټه کې ایساره هوا وایستل شي.

د غوا د غولانځې غوټه کېدلو درملنه:

کله د غوا غولانځه د نامعلومو علتونو له امله غوټه شي، ډېر ځله د نوې لنګې شوې غوا غولانځه چې د کور خلک ورنه په سمه توګه شوده ونه شي لوشلای، د کنډ(لومړۍ او دویمې ورځې شوده) د غوټه کېدو لامل شي او د غوا غولانځه ورسره کلکه شي. د دې ناروغۍ د علاج لپاره کلیوال غنمې وریجې پخوي او په شړومبو یا شیدو کې یې څاروي ته درې څلور ورځې سر په سر ورکوي، خو د دې تر څنګ د څاروي غولانځې کرار کرار لوشي، تر څو غوټه شوې شوده ترې ووځي. دې ناروغۍ ته (بوغمه) هم وايي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د څاروي د ټوخي درملنه:

کله چې پسه ټوخېږي له ۲–۳ وطنۍ هګۍ ورته په خوله کې ماتوي او ور اړوي یې، که غوایی یا غوا ټوخېږي، نو بیا له ۱۰–۱۵ پورې هګۍ ورته اړوي. یا ورته د ((کورى)) په نوم [د غره یو بوټی دی] ټکول کېږي او څاروي ته ورکول کېږي. همدا راز یو پاو تاوده غوړي (د غواوو غوړي) د ټوخي درملنې په موخه څاروي ته په خوله کې اړول کېږي.

## د څاروي د زخم درملنه:

کله چې څاروی زخمي شي، د ((یک انداز)) په نوم [د توره پاڼې په شان یو بوټی دی] بوټی وچ او میده شي او پر زخم واچول شي. همدا راز د زاړومبی په نوم درملنه هم شته چې یوه ټوټه ټوکر به وسوزول شي او ایره به یې پر زخم کېښودل شي.

## د څاروي نس ناستي درملنه:

کله چې د شنو وښو پر مهال څاروی واښه خوري، نو کله نا کله د څاروي د نس ناستې لامل شي، کلیوال د دې ناروغۍ د

(c) ketabton.com: The Digital Library



درملنې لپاره د څاروي مخې ته د مالګې ګټ ږدي، څاروی پر هغه ګټ ژبه راکاږي او څټي يې. په ورځ دوو کې د څاروي د اسهال د بندېدو لامل شي.

د شیدو د کمښت درملنه:

کله چې يو څاروی خپل شوده کم کړي، نو ورته ماسته وریجې ورکول کېږي، له دې سره د څاروي شیدې زیاتېږي. د جوارو د اوړو له ګړوب سره هم د شودو د زیاتېدا تمه کېدای شي.

د څاروي د نس چوره کېدلو درملنه:

کله داسې پېښه شي چې څوک يو څاروی په لینده، یا کاڼي وولي، نو يوه ګوتمۍ ځای يې وپړسېږي، دې حالت ته کلیوال د مال د نس چوره کېدل وايي. څاروی ورنه نا ارامه وي، علاج يې دا دی چې په يوه ټوټه لامده لیمڅي کې به مالګه واچوي، يو کاڼی به په اور کې سور او بیا به يې په دې لیمڅي کې تاو کړي، سم دواره به په لیمڅي کې تود تاو شوی کاڼی د څاروي

(c) ketabton.com: The Digital Library



پر پړسېدلي(چوره) ځای د ټکور لپاره کېښودل شي. دوه ورځې چې دا طریقه تکرار شي ځاروی ښه کېږي.

د ځاروي د قبضیت درملنه:

که ځاروی قبض وي او له امله یې خېټه پړسېدلې وي، نا ارامه وي، نو نیم من توربانجان به جوش کړای شي، چې ښه وخوټېدل لاس به پکې ووهي چې مېده او غوټې یې هوارې شي، بیا به ځاروي ته په خوله کې واړول شي. په یو ساعت کې دننه به یې قبضیت مات شي. اوسنۍ درملنه یې دا هم ده چې یو بوتل غټه پیپسي به په خوله کې ورواړول شي، له دې سره یې هم قبضیت ماتېږي.

د ځاروي د تبک ناروغۍ درملنه:

د تبک ناروغي په ځارویو کې ډېره وي، دا یو ډول ناروغي ده چې ځاروی پکې له پښو فلجېږي، سومان یې چینجي کوي او له حرکته پرېوزي. علاج یې دا دی چې د اوړي به یې په سرو شګو کې ګرځوي، تر څو د سومانو لاندینۍ برخې یې داغ او چینجي یې مړه شي، له دې سره ځاروی ښه کېږي. که د ژمي دا ناروغي ورپېښه شوه، نو په ژاولنو ختو کې به وګرځول شي،

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې مېکروب او چینجي ترې په ختهو کې پرېوزي. له دې سره هم ځاروی ښه کېږي.

ب: روحاني ځارویزه درملنه

د شیدو د کمښت روحاني درملنه:

کله چې ځاروی شوده کم کړي، نو په کلي کې یو روحاني شخص ورته په الحمدلله او وروستیو څلورو ستورتونو ډوډۍ دموي او ځاروي ته یې ورکوي.

غوا چې لغتې وهې:

هغه غوا چې د لوشلو پر مهال نه ودرېږي او لغتې وهي، د کور مېرمنه ورسره سخته په تکلیف وي، د دې غوا لپاره روحاني علاج دادی چې یو روحاني شخص راوستلای شي، غوا به دم کړي او یا به ورته ډوډۍ دم کړي. ډوډۍ ورته درې وخته په سورت فاتحه دمېږي.

ځاروی چې تور یې اخېستی وي:

دا یو ډول ناروغي ده چې ځاروي ته پیدا شي، ځاروی پکې په یو ځای نه درېږي، هڅه کوي پړی وشلوي او وتښتي، هر څوک چې یې خوا ته ورځي ورنه ډارېږي، د دې لپاره روحاني

(c) ketabton.com: The Digital Library



علاج دادی چې د کلي په ملا یا کوم بل روحاني او متقي شخص به ورته په سورة فاتحه او ((چهار قُل)) سکړک دم شي او بیا ځاروي ته څو وخته ورکړل شي.

ج: خرافاتي ځارویزه درملنه.

غوا چې لغتې وهي:

په کورو کلي کې یو نیم کس کوډې او طلسم کوي، د هغې غوا یا ځاروي لپاره چې د لوشلو پر مهال نه دریږي او لغتې وهي، په یوه پاڼه کاغذ کې د فرعون، نمردو، شداد او هامان نومونه لیکي او بیا یې د یو تاویز په بڼه پوښ کړي او د غوا په ښکر یا لکۍ پورې یې وتړي. چې دا کړنه په ښکاره ډول په خرافاتي عقایدو پورې تړلې ده.

کورني الوتونکي چې د نس ناستې ناروغي ولري:

د کورنیو الوتونکو د نس ناستې ناروغۍ کورنی درمل دادی، چې د جوارو اوړه ورته په مستو کې ګډیږي او ورکول کیږي. د تیترا سکلین کپسول هم ورته په خوله کې اچول کیږي، که چرګوړي واړه وي ورته په اوبو یا اوړو کې یو کپسول ګډیږي او اوبه ورته ایښودل کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**مږز، زرکه او چرګ چې په جنګ کې زخمي شي:**

مږز، زرکه یا چرګ چې په جنګ کې زخمي شي، په زخم یې رانجه اچول کېږي او تود ټکور ورکول کېږي. بله درملنه یې داده، چې تاري لتې ته به اور واچول شي او ایره به یې په ټپي ځای باندې کېښودل شي.

**د مږز، زرک او چرګ د ټوغکي درملنه:**

که مږز، زرک او چرګ د ټوغکي په ناروغۍ اخته وي، نو نخښه یې داده، چې له خولې یې اوبه بهېږي او تبه لري، درملنه یې داده چې پیاز به ورته مېده مېده شي او په خوله کې به ورکړل شي، یا شدوپۍ (یو ډول بوټی دی) ورکول کېږي.

**چرګه چې خامې هګۍ اچوي:**

هغه چرګه چې له کوم ځای نه غورځېدلې وي او خامې هګۍ اچوي، درملنه یې داده چې په غوړو کې به ورته د جوارو نینې وکړي، بیا به یې ورته کېږدي چې ویې خوري، یا به وازده ویلې کړي او مخې ته به یې کېږي. له دې سره به یې ناروغي ښه شي.

**کورني الوتونکي چې پښه ماته شي:**

د چرګ، چرګې، فیل مرغ، هیلۍ، زرک یا مږز چې پښه ماته شي، نو د پښې شاوخوا به یې د دورمو(کړکو) ډکي کېښودل شي او په ډېر حکمت به په ټوټه وتړل شي، دوه اونۍ وروسته به یې مات شوی ځای پرانیزي، تمه ده چې مات هډوکی به یې جوړ شوی وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د کورنیو الوتونکو پر ځان چې دانه وي:

د کورني الوتونکي پر ځان چې دانه وي، نو درملنه يې داده، چې په يخو اوبو کې به د بارتنګ پتې جوړه کړي او په دانه به يې پورې کړي، يا به اينڅڅ(شين بوټی دی) وټکوي او تود به يې کړي، په يوه لته کې به يې واچوي او پر دانه به يې پورې کړي. بله درملنه يې داده چې د هوګې يو پلی به په منځ مات کړي، په دانه به يې وسولوي، په درې څلورو ورځو کې به دانه وچه شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پایله

د پایلې په توګه ویلای شو چې فولکلوریکه درملنه زموږ په هېواد کې پراخې ریښې لري، که دا غني پانګه را ټوله شي ګټور اثار ترې پنځېدلای او د څېړنو لپاره څېړونکو ته ښه توکي په لاس ورتلای شي. که څه هم دغه مونوګراف به د کمیت او کیفیت په لحاظ دومره څه ونه لري چې حساب ورباندې وشي، خو د فولکلوریکې درملنې ښار ته د یوې دروازې حیثیت لرلای شي. دا راټولونې به د دې لامل شي، چې څېړونکو ته وړ موادو برابر او زموږ د ټولنې د فولکلوریکې درملنې اساسي توکي معرفي کړي. په دې سربېره که یو وخت زموږ په هېواد کې د دوا درمل بوټي تر مطالعې لاندې نیول کېږي، نو کېدای شي چې په عصري توګه دغه توکي مطالعه شي او وکتل شي چې موثریت او ګټورتوب یې په څه کې دی. ایا دا توکي په عصري طبابت کې د استعمال وړ دي، ایا د دې توکو جانبي عوارض شته، ایا ګټورتوب یې علمي دی، که یوازې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



ناروغانو د تسکین په اړه یوه سرچینه ده؟ که په راتلونکې کې د طبعي علومو او فولکلوریستانو ګډه څېړنه ترسره شي، نو دا او دې ته ورته پوښتنې به پکې ځواب شي.

زه دا کار نیمګړی او نا بشپړ ګڼم، خو تمه لرم چې هرومرو به د فولکلوریکې درملنې په اړه د څېړنو د ماڼۍ لپاره د خامو موادو یوه ذېرمه وي.

## درنښت

(c) ketabton.com: The Digital Library



## وړاندیز

زه د ننګرهار پوهنتون محترم مشرتابه ته وړاندیز کوم، چې د محصلینو مونوګرافونه دې د موضوعاتو د همغږۍ او نږدې والي له مخې سره بېل، د کتاب په بڼه دې چاپ او ټولنې ته وړاندې کړي. دغه مونوګرافونه چې د محصلینو د زیار محصول دی او درنو استادانو په پوره اخلاص کتلي او په اړه یې مسلکي سپارښتنې کړي، د ټولنې لپاره د خیر پیغام لري، ډېر داسې څه شته چې په مونوګرافونو کې راټول شوي، خو د یادې موضوع په اړه هېڅ کوم اثر نه دی چاپ شوی. هیله مې دا ده چې د پوهنتون محترمه اداره د دې هڅه وکړي چې د محصلینو د مونوګرافونو د چاپ او خپراوي لپاره شرایط برابر کړي، چې په ټولنه کې ترې خلک ګټه پورته کړي.

درنښت

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ماخذونه:


١. اخندزاده غلام فاروق، ننګرهار، ښېوه، شګه، عمر ۵۸ کاله
٢. اخندزاده محمد حسن ، ننګرهار، ښېوه، شګه، عمر ٨٢ کاله
٣. حاجي بي بي، ننګرهار، ښېوه، شګه، عمر ٧۵ کاله
۴. حاذق ملا عبدالخلیل، کورنی طبیب، کامه، ننګرهار، عمر ٧۵ کاله، مړ
۵. خټک، خوشال خان، طب نامه، چاپ ١٩٨۶ م کال ، شرکت پرنټنګ پرېس چوک نسبت روډ، لاهور
٦. خاطر،خلیل الرحمن، ننګرهار، حصارشاهي، عمر ۴۵کاله
٧. سعید، سعید خان، غزنی، اندړ ولسوالۍ، عمر ۶٢ کاله.
٨. صافی، ملا محمد دین، ننګرهار، ښېوه، برکاشکوټ، عمر ٧٣ کاله
٩. مشواڼی عبدالقیوم زاهد، کورنی طبیب، ١٣٨٠ لمریز، دانش کتابتون، قصه خواني بازار، پشاور.
١٠. ناصر نصرالله، د پښتني فولکلور د چاپي مجموعو څېړندود، کابل، آزادۍ مطبعه، ١٣٨٣ لمریز

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۱. زاوه وال، تاج الدین عاجز، ویې پېژنه ویې خوره، ۱۳۸۳ لمریز، د دانش خپرندویه ټولنې تخنیکي څانګه، قصه خواني بازار، پېښور
۱۲. شینواری پروفیسور الحاج انجنیر صالح ګل، معالجه بالغذا، ۱۳۷۹ لمریز، برهان پرنتنګ پرس،
۱۳. شینواری پروفیسور الحاج صالح ګل، خواړه او روغتیا، ۱۳۸۵ لمریز، البیروني مطبعه، پېښور
۱۴. http://www.seemorgh.com/culture/۲۰۸۲/۱۴۴۲٦.html

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د لیکوال چاپ اثار:

1 – ترخې خاطر (ناول) چاپ
2 – ستوري کیسه کوي (ناول) چاپ
3 – د خدای په کور کې ( د لنډو کیسو ټولګه) چاپ
4 – د ښاپیرو په حرم کې ( طنزیه ټولګه) چاپ
5 – روحي ناروغ ( طنزیه ټولګه) چاپ
6 – وزر ( د وجیزو ټولګه) چاپ
7 – رښتیا به وایو (نثري ټولګه) چاپ
8 – دا هماغه هندوستان دی( د هند یونلیک) چاپ
9 – یو زرو یو دلیلونه ( ژباړه) چاپ
10 – فکر په کار دی (نثري ټولګه) چاپ
11 – فولکلوریکه درملنه ( همدا اثر)

(c) ketabton.com: The Digital Library



# مننه او کور ودانی

د افغانستان ملي تحریک د هېواد پال او فرهنګپال شخصیت ښاغلي (محمود کرزي ) څخه د زړه له تله مننه کوي چې د دې اثر چاپ ته یې اوږه ورکړه. ملي تحریک ویاړي چې د علمي اثارو د چاپ لړۍ یې پیل کړې ده. دا لړۍ به دوام لري. موږ له ټولو درنو هېوادوالو څخه په خورا درنښت هیله کوو چې په خپل معنوي او مادي وس د کتابونو د چاپ دا لړۍ لا پسې وغځوي.

یو ځل بیا د دې اثر له ژباړن او چاپوونکي څخه د زړه له تله مننه کوو چې د دې اثر د ژباړلو او چاپولو جوګه شول.

په فرهنګي مینه

د افغانستان ملي تحریک

(c) ketabton.com: The Digital Library




د خپرونو لړ: ۷۰

د افغانستان ملي تحریک
www.melitahrik.com

Get more e-books from www.ketabton.com
Ketabton.com: The Digital Library